د عمومي جزا حقوق

(۵)

# د حبس بدیل

**Alternatives to Incarceration**

دویم چاپ

لیندۍ ۱۳۹۹هـ

ترتیبوونکې اداره: د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (آیدلو IDLO)

کابل، افغانستان

ویب پاڼه: www.idlo.int

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانينو سره سم ترتيب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانينو د نوو تعديلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بيا بيا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی يا ټوليز بدلون د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخيستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

**په نوموړې روزنیزه رساله کې کارول شوي قوانین:**

- د جزا کود، ۱۳۹۶ هـ کال
- د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضـمیمه د ۱۳۹۶ کال د کب د ۱۵ مې نیټې په ۱۲۸٦ ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې.

# د مطالبو لړلیک

**سریزه** ........................................................................................................ ۱

**لومړی څپرکی**

**د حبس د بدیل مفاهیم او کلیات**

**لومړی مبحث: د حبس بدیل مفهوم:** ........................................................................ ٤

لومړۍ وینا: د حبس د بدیل لغوي مفهوم:........................................................................ ٤

دویمه وینا: د حبس بدیل اصطلاحي مفهوم: ........................................................................ ٥

**دویم مبحث : د حبس د بدیل تاریخچه:** ........................................................................ ٨

**درېیم مبحث: د حبس د بدیل موخې:** ........................................................................ ۱۱

**څلورم مبحث: د حبس د بدیل د ټاکلو شرایط، خنډونه او د حکم سقوط:** ........................ ۱۸

لومړۍ وینا: د حبس د بدیل ټاکلو شرطونه:........................................................................ ۱۸

دویمه وینا: د حبس له بدیل څخه د استفادې د ممنوعیت موارد: ........................................ ۲۱

درېیمه وینا: د حبس د بدیل د حکم د سقوط موارد: ........................................................ ۲۲

**د لومړي څپرکي پایلیزه:** ........................................................................ ۲٥

**دویم څپرکی**

**د افغانستان په نافذه قوانینو کې د حبس بدیل**

**لومړی مبحث: د مراقبت دوره:** ........................................................................ ۲۹

لومړۍ وینا: د مراقبت د دورې تعریف:........................................................................ ۲۹

دویمه وینا: د مراقبت د دورې موارد: ........................................................................ ۳۰

**دویم مبحث: د عامه خدمتونو ترسره کول:** ........................................................................ ٤۰

لومړۍ وینا: د عامه خدمتونو مفهوم: ........................................................................ ٤۱

دویمه وینا: د عامه خدمتونو ډولونه: ........................................................................ ٤۳

درېیمه وینا: د عامه خدمتونو د استحصال مراجع:........................................................................ ٤٤

څلورمه وینا : ښېګڼې او موخې:........................................................................ ٤٥

پنځمه وینا: د عام المنفعه خدمتونو شرایط:........................................................................ ٤٦

**درېیم مبحث: له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیت:** ........................................................................ ٥۰

**څلورم مبحث: په کور کې حبس:** ........................................................................ ٥٤

لومړۍ وینا: دحبس د بدیل مفهوم او شرایط یې: ........................................................................ ٥٤

دویمه وینا: په کور کې د حبس ښېګڼې او عیبونه: ........................................................................ ٥۷

**د دویم څپرکي پایلیزه: ..................................................................................................... ٦٢**
**عمومي پایلیزه: ............................................................................................................ ٦٤**
**آخځلیکونه:**............................................................................................................... **٦٥**

## سریزه

د جزا حقوقو په تاریخي تحولاتو کې نسبت بېلابېلو وختونو او ځایونو ته د ټولنې غبرګون د جرمونو او مجرمینو پروړاندې یو له بل سره توپیر درلود. په لرغونو زمانو کې دا غبرګون په ډېره ستوغه، سخته، وحشیانه او ظالمانه توګه، لکه د بدن د غړو پرېکول، سوځول، داغل او داسې نور په وضعي قوانینو کې پر مجرمینو پلي کېدل. د وخت په تېرېدو او د منتسکیو، ولتر، سزاربکاریا، سروان، دوپاتی، لاکرتل، دوګور، پاستوره، تارژه ، برګاس[١] په څېر اصلاح غوښتونکو په نیوکو سره د مجازاتو ټاکنه او تطبیق یو څه خفیف شول.

لومړی یعنې، په اتلسمه پیړۍ کې باور په دې ؤ چې محبس د محبوس او نورو اشخاصو چې تر اوسه لا د جرم مرتکب شوی نه دي، د عبرت ځای دی. په نولسمه پیړۍ کې باور په دې شو چې محبس د مجرمینو د پښېمانۍ ځای دی. بالاخره د نیوکو په پیل کیدو او د محبس د اړتیاوو په اثبات سره، باور پر دې شو چې محبس د مجرمینو د درملنې او اصلاح ځای دی. خو متأسفانه محبس له دې باورونو څخه یو هم تر سره نه کړ، په ځانګړې ډول په لنډمهاله حبسونو کې.

له همدې کبله هېوادونه په دې لټه کې شول تر څو د حبس جزا لپاره داسې بدیل ومومي چې وکولای شي یو اغېزناک غبرګون اوسي او د مجازاتو موخې د هغه په خورا غوره وجه تر سره کړي.

د حبس بدیلونه د مجازاتو د موخو تر سره کولو لپاره د ټولنیزو غبرګونونو له خورا غوره لارو چارو څخه دي. د حبس بدیل که له یوې خوا د محبس له ناوړه اغېزو څخه مخنیوی کوي، له بلې خوا له محبس څخه بهر، د مجرم د اصلاح او بیاځلي روزنې لپاره خورا غوره غبرګون دی.

په بېلابېلو هېوادونو کې له یو شمېر بدیلونو څخه د حبس د بدیل په توګه استفاده صورت مومي، لکه د حبس د تنفیذ تعلیق، مشروطه آزادي، عام المنفعه خدمتونه، په کور کې حبس، روزنیز - اصلاحي مرکزونه، ثابته او ورځینۍ نغدي جزا، الکترونیکي نظارت، توبیخ، مصادره، تعلیم (ښوونه)، د کسب زده کړه او حتی په ځینو مواردو کې یې له محاکمې د مخه او په حبس له محکومیت څخه د مخنیوی لپاره،

[١] - میشل، فوکو، مراقبت و تنبیه تولد زندان، مترجمان، نیکو سرخوش و افشین جهاندیده، نشرنی، چاپ نهم ، سال ١٣٩٠، ص ٩٥

منځګړیتوب او د محاکمې تعویق (شاته غورځول) د حبس د بدیلونو تر عنوان لاندې قانون کې ځای پر ځای کړي دي[١].
د افغانستان د قوانینو له مخې د حبس د تنفیذ ساده او کوټلي (فشرده)تعلیق، مشروطه آزادي، نغدي جزا، د قطعي حبس، د حبس تعطیل، دمعاش کسر، د محاکمې تعویق د حبس د بدیل څخه آخوا په ځانګړو څپرکو کې تصریح شوي دي.
د جزا کود یوازې د مراقبت دوره، د عامه خدمتونو تر سره کول، له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیت او په کور کې حبس د بدیلونو تر عنوان لاندې منلي او د حبس نور بدیلونه په دې کود کې د بدیل په څپرکې کې نه دي راغلي. دا چې د حبس بدیل څه شی دی؟ ډولونه یې کوم دي؟ او هر یو د کومو شرایطو تابع دی؟ هغه پوښتنې دي چې په دې رساله کې د دوه څپرکو په ترڅ کې پرې بحث صورت مومي. په لومړي څپرکي کې د حبس د بدیل کلیات لکه تعریف، تاریخچه، موخې او عمومي شرایط بیانېږي، بیا په دویم څپرکي کې د افغانستان په جزا کود کې د حبس د بدیل احکام او شرایط څېړل کېږي چې: د مراقبت دوره، د عامه خدمتونو تر سره کول، له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیت او په کور کې حبس رانغاړي.
په دې ښوونیزه رساله کې له توصیفي تحلیلي میتود څخه استفاده شوې ده. کوښښ په دې دی تر څو دا ښوونیزه رساله د قاضیانو، څارنوالانو او حقوقي مساعدینو لپاره عملي جنبه ولري. له دې کبله له ستومانوونکو، سستی رامنځته کوونکو او په بشپړ ډول نظري بحثونو یا هغه بحثونو څخه چې په ښوونیزو پروګرامونو کې یې طرح کولو ته اړتیا نه شته، ډډه شوې ده. خو په ځینو مهمو او اړینو مواردو کې نظري تحلیلي بحثونه د ځانګړي اهمیت پر بنسټ طرح شوي دي. فرضي قضیې، د مناقشې او ګروپي خبرو اترو په موخه مباحثوي پوښتنې، صنفي فعالیتونه او انتقادي تحلیل او تفکر د هغه مطالبو له جملې څخه دي چې د بحثونو په ترڅ کې ورڅخه ډېره یادونه شوې ده، تر څو ګډونوال شننې او ارزونې ته اړ باسي او روزنه ګډونوال محوره وګرځوي. خو لازمه نه ده چې دا ټولې قضیې او پوښتنې په ټولګې کې تر مناقشې او شننې لاندې ونیول شي، بلکې روزونکی د ځانګړي کړل شوي وخت په پام کې درلودلو سره د هغو څخه یو څو غوره کوي.

[١] - محمد بصیر، حقیار اسحق زوی، بدیلهای حبس در اسناد د تقتینی افغانستان و قواعد بین الملل پوهنتون کاتب، تیزس ماستری، سال ١٣٩٣ ص٥- ٦.

# لومړی څپرکی

## د حبس د بدیل مفاهیم او کلیات

**موخې:**

د دې روزنیزې ناستې په پای کې به ګډونوال په دې وتوانېږي تر څو:

١. د حبس د بدیل مفهوم بیان کړي؛
٢. د حبس د بدیل د قانون ګزارۍ اړتیا تشخیص کړي؛
٣. د حبس د بدیل موخې بیان کړي؛
٤. د حبس د بدیل ډولونه وپېژني او په تطبیق وړ قضیو کې ترې استفاده وکړي؛ او
٥. د حبس د بدیلونو د تصریح او تطبیق خنډونه لیست کړي.

**عنوانونه:**

د حبس د بدیل مفاهیم او کلیات:

- د حبس د بدیل تعریف؛
- تاریخچه؛
- د حبس د بدیل د قانون ګذارۍ اړتیا؛
- د حبس د بدیل موخې؛
- د حبس د بدیل د ټاکلو شرایط؛ او
- د حبس د بدیل د ټاکلو خنډونه .

# لومړی څپرکی

## د حبس د بديل مفاهيم او کليات

د حبس بديل د لومړي ځل لپاره د افغانستان په جزا حقوقو کې تر خپلواک عنوان لاندې تنظيم شوی دی. په دې څپرکي کې لومړی د حبس بديل تعريف کېږي (لومړی مبحث)، بيا د هغه تاريخ بيانېږي (دويم مبحث)، د هغه په تعقيب سره د حبس د بديل موخې په (دريم مبحث) او شرطونه يې په (څلورم مبحث) کې څېړل کېږي

### لومړی مبحث: د حبس بديل مفهوم:

د حبس بديل له دوؤ کلمو (حبس او بديل) څخه ترکيب شوی دی.

### لومړۍ وينا: د حبس د بديل لغوي مفهوم:

بديل عربي کلمه او د بدل توري له تفعيل باب څخه دی او په يو شيز د بل شيز د تبديل په معنا استعمالېږي[1]. بدل همدارنگه د عوض، خلف، ځای ناستي، هر هغه شيز چې د بل پر ځای واقع شي، کارول کېږي. په پارسي کې بدل او بدلي د ساختگي او تقلبي په معنا هم کارول کېږي[2].

حبس په لغت کې د زندان مترادف استعمالېږي او زندان يې د محکومانو د ساتلو ځای گڼلی دی چې بندي خلنه او قيد خلنه هم د محبس مترادف بولي[3]. له همدې کبله، حبس په لغت کې د بندولو او بندي کولو او د آزادۍ سلبولو په معنی کارول کېږي.

د جزا حقوقو په اصطلاح کې، حبس د واکمنې محکمې د حکم پر بنسټ په هغو ځانگړي ځايونو کې اشخاصو د آزادۍ سلبولو څخه عبارت دی چې د دولت لخوا د دې لپاره مشخص شوي دي. د

---

[1] - جمال الدين محمد، ابن منظور، لسان العرب، يوولسم ټوک، بيروت، دارالصادر، ۲۰۰۴ ميلادي کال، ص ۴۸.

[2] -حسن عميد، فرهنگ فارسی عميد، انتشارات امير کبير، چاپ سی ويکم، دو جلدی، سال ۱۳۹۱ جلد اول ص ۳۲۷.

[3] - www.alifathilawyer.persianblog.it

افغانستان جزا کود حبس داسې تعریف کړی دی: «حبس له محبسونو څخه په یوه کې چې د دولت له خوا په دې منظور اختصاص شوی دی د محکمې په قطعي حکم د محکوم علیه له زنداني کولو څخه عبارت دی »[۱].

## دویمه وینا: د حبس بدیل اصطلاحي مفهوم:

د حبس بدیل له هر ډول قانوني مجازاتو څخه عبارت دی چې د حبس په عوض او یا له محبس څخه مقید خلاصون (خوشي کیدل) د محکمې او یا قانوني صلاحیت لرونکو مقاماتو د حکم په بنسټ پر مجرم پلي کېږي[۲]. یا په بل عبارت؛ هغه مجازات دي چې محکمه یې د حبس په عوض د حکم د صادرولو پر مهال د مجرم د اصلاح لپاره صادروي[۳].

د حبس بدیل د جزا کود په (۱۴۸) مه ماده کې داسې تعریف شوی دی: « د حبس بدیل هغه جزا ده چې د جرم پر مرتکب د حبس په عوض، د مقیدې خوشې کیدنې په ډول د محکمې له خوا حکم کېږي.» همدا رنګه د حبس بدیل د جزایي اجراآتو قانون د دویمې ضمیمې د دویمې مادې اړوند په لومړي بند کې په ذکر شوي عبارت تعریف شوی دی.

د جزا کود ۱۴۸ مه ماده کې درج شوي د حبس بدیل تعریف قیود:

۱. د حبس بدیل د حبس د جزا په عوض یوه جزا ده؛ یعنې مرتکب لومړی د حبس د جزا وړ ګڼل کېږي، بیا د حبس په بدیل محکومېږي. نو له دې کبله تر هغه مهاله چې د حبس جزا مطرح نه وي، د حبس د بدیل جزا نه مطرح کېږي. البته په ډېرو محدودو مواردو کې د حبس بدیل د ځینو جرمي چال چلندونو لپاره د جزا په توګه پیش بیني شوی دی چې د تعریف له شرحې وروسته به ورته اشاره وشي. همدارنګه له دې قید څخه داسې استنباط او برداشت کېږي چې د حبس بدیل پر حکمې شخص د تطبیق وړ نه دی، ځکه نوموړي په حبس نه محکومېږي.

۱ - د ۱۳۹٦ کال جزا کود، ۱۴۵ – مه ماده.

۲ - محمد بصیر، حقیار، وړاندیني ماخذ، ص ۱۳.

۳ - هماغه، ص ۱۴.

۲. د حبس بدیل مقید خلاصون (خوشې کیدل) دی او هغه هم له محبس څخه مقید خلاصون. د حبس بدیل مطلقه خلاصونه نه ده، ځکه د جزایي اجراآتو قانون د دویمې ضمیمې د دویمې مادې په پنځم بند کې په کور کې حبس د آزادۍ په محدودیت تعریف شوی دی «د محکوم علیه د اقامت په ځای کې د هغه د آزادۍ محدودول.»

۳. د حبس بدیل د محکمې د حکم پر بنسټ د پلې کیدو وړ دی. یعنې د حبس بدیل د محکمې له حکم پرته تطبیقېدلای نه شي. د دې قید پر بنسټ ویلای شو چې د جزایي اجراآتو په قانون کې له (۳۲۹) مادې پورې درج شوي د حبس بدیلونه چې د عدلیې وزیر په منظورۍ د تطبیق وړ بلل کیدل، د جزا کود په انفاذ سره یې د تاکلو او تطبیق وړتیا له لاسه ورکړې ده.

٤. د حبس بدیل د جرم پر مرتکب تطبیقېږي؛ په دې قید سره د حبس بدیل د تامیني تدبیرونو څخه جلا کېږي. ځکه تامیني تدبېرونه په مجرم او تورن پلي کیدای شي، په داسې حال کې چې د حبس بدیل یوازې په مجرم پلی کیږي. محکمه په لومړي قدم کې د حبس اصلي جزا سنجش کوي، بیا د هغې پر بنسټ د حبس د بدیل موده او نوعیت مشخص او حکم پرې کوي.

د جزا کود ۱۵۱ مه ماده صراحت لري چې :«محکمه کولای شي د هغه جرم مرتکب چې د هغه د قانوني ټاکلې جزا اکثر حد تر پنځو کلونو پورې حبس وي، د دې قانون له حکمونو سره سم د حبس په بدیله جزا محکوم کړي.» له دې مادې پوهېدل کېږي چې د حبس د بدیل جزا د هر جرم لپاره نه پېشبیني کېږي، بکله د هغو جرمونو لپاره ټاکل کېدلای شي چې جزا یې په قانون کې تر پنځو کلونو پورې حبس پیشبیني شوي وي. دا یو عام اصل دی، خو استثناءً د جزا کود په خاصه برخه کې د حبس بدیله جزا مستقیماً د ځینو جرمونو لپاره د جزا په حیث پېشبیني شوې ده. د بېلګې په ډول د جزا کود ۳۳۱ ماده داسې صراحت لري؛ «هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، د دیرشو زرو افغانیو نغدې جزا یا د حبس په بدیل محکومیږي.........» په دې ځای کې د حبس بدیل په مستقیمه توګه د جرم لپاره د اصلي جزا په توګه پېشبیني شوې ده. او اصلي جزا د جزا کود په ۱۳۷ مه ماده کې هم همداسې تعریف شوې ده: "هغه مجازات دي چې په دې قانون کې د جرم د ارتکاب لپاره پېشبیني شوې وي او د نورو جزاګانو د بشپړتیا یا تبعیت لپاره ټاکل شوې نه وي."

نورې بيلگې يې د جزا کود د ۳۰٦ مې مادې د ۱ فقرې په ۱ بند او په ۳۸۸، ۴۰۰، ۴٦۳ او ۴٦۸ مادو کې ليدلای شئ.

- هر جرم چې جزا يې تر پنځو کلونو حبس وي، د هغو جرمونو په استثناء چې په هغو کې د حبس بديل د تطبيق وړتيا نه لري. محکمه کولای شي د حبس په عوض د حبس په بديل حکم وکړي. په دې ځای کې محکمه د حبس له بديل څخه په استقادې او نه استفادې کې اختيار لري (مختاره ده)، ځکه قانون د «محکمه کولای شي» له لفظ څخه استفاده کړې ده (د جزا کود ۱۵۱ مه ماده).

- د حبس بديل، سره له دې چې له تأميني تدبيرونو سره ورته والی لري، خو تأميني تدبيرونه نه دي. ځکه چې له يوې خوا مستقيمه اړيکه يې د مجرمانه عمل له ارتکاب سره ده او له بلې خوا د حبس بديل د مجازاتو د بديل له جملې څخه دی. په داسې حال کې چې تأميني تدبيرونه د مجرم د خطرناک حالت په پام کې لرلو سره پېشبيني کېږي.[1]

- د اطفالو د حجز موضوع د حبس بديل نه انگېرل کېږي، ځکه چې د حبس بديل يو ډول مجازات دي[2].

- داسې تدبيرونه؛ لکه د جرمونو لغوه کول او د محاکمې له جوړېدو څخه مخنيوی، د محاکمې شاته غورځول او منځگړيتوب د حبس بديل نه گڼل کېږي، ځکه چې د حبس بديل اصطلاح د محکمې له حکم پرته نه کارول کېږي.

[1] حسين آقايي، جنت مکان، حقوق جزای عمومي، جلد دوم، چاپ دوم، انتشارات جنگل، سال ۱۳۹۱، ص ۲۵۳.

[2] - علی حسين، نجفی ابرند آبادی، حقوق جزای عمومی ۲، اقدامات و کيفرهای جايگزين زندان، تقريرات درسی دانشکده حقوق، دانشگاه شهيد بهشتي، تهيه شده توسط رايجان مهرداد، سال ۱۳۷۸ و ۱۳۷۹، ص ۳۹۱.

## دویم مبحث : د حبس د بدیل تاریخچه:

د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې ثابته شوې ده چې د حبس جزا په ځانګړې توګه په هغه جرمونو کې چې جزا یې خفیفه ده، دومره اغېزمنتیا او ګټورتیا نه لري. د محبس ناوړو اغېزو له یوې خوا او د محبسونو د لګښت زیاتوالی له بلې خوا د پوهانو او هېوادونو پام د حبس د بدیلونو په لورې واړوه.

لومړنی مهم کنفرانس چې د حبس د بدیلونو په اړه صورت وموند، هماغه د محبسونو نړیوال کنفرانس ؤ چې په ۱۸۷۲ زېږدیز کال کې د انګلستان هېواد په پلازمینه لندن ښار کې جوړ شو. په دې کنفرانس کې د بحث اساسي محور له محبسونو څخه راولاړ شوې ستونزې او د آزادۍ د سلب مجازاتو کمښت ؤ. د ادیناس په نامه یوه ناروېجي پوه په ۱۹۵۲ زېږدیز کال کې د «څورول حقیقت دی یا خیال» تر عنوان لاندې یو اثر ولیکه، چې د حبس د بدیل په اړوند لومړنی اثر ګڼل کېږي. له دې وروسته داسې پوهانو لکه سویډني کینبرج O. Kinbergپه ۱۹۵۳ زېږدیز کال، امریکایي والدو GP. Waldoپه ۱۹۷۰ زېږدیز کال او کندي عزت عبدالفتاح E Ab Faatah په ۱۹۸۳ زېږدیز کال کې د حبس د بدیل د ربښتیني تطبیق لپاره د پام وړ پرمختګونه درلودل. دې پوهانو د قوانینو د وضع کولو او تفسیر او د حبس په هکله د علمي غونډو د جوړولو لپاره ډېر کړاوونه وګالل. په داسې حال کې چې په دې اړوند فعالیتونو جریان درلود، په اروپا کې د حبس د بدیل په باره کې قوانین نافذ شول او هغه هېوادونو چې د حبس له بدیل څخه استفاده کوله، د تجربو د شریکولو په موخه یې تړونونه لاسلیک کړل.

همداسې د محبسونو د وضعیت د ښه کولو او د حبس د جزا تطبیق د کمښت په موخه ځیني فعالیتونه سر ته ورسېدل چې له هغې جملې کولای شو د څو کنفرانسونو جوړولو ته اشاره وکړو:

یو کنفرانس په ۱۹٦۰ زېږدیز کال کې د انګلستان هېواد په لندن ښار کې جوړ شو. او په هغه کې په محبسونو کې د شته ستونزو په هکله هر اړخیزو بحثونو صورت وموند. په دې کنفرانس کې تصمیم ونیول شو چې، قاضیان باید د امکان تر حده د آزادۍ د سلبولو له مجازاتو څخه ځان وژغوري او په عوض یې د تنفیذ له تعلیق، قضایي آزمایښت او یا نوور مالي جزاګانو څخه استفاده وکړي. او د امکان په صورت کې لنډ مهاله محبوسین ، باید له اوږدمهاله محبوسینو څخه جلا وساتل شي.

په ۱۹۸۰ زېږدیز کال کې یو بل کنفرانس د وینزویلا په کاراکاس کې جوړ شو. په دې کنفرانس کې یو ځل بیا د محبسونو او د حبس د بدیلو جزاګانو د ستونزو په اړوند هېوادونو ته توصیه وشوه.

په ۱۹۸۵ کال کې د ایټالیا هېواد په میلانو ښار کې په دې هکله یو کنفرانس جوړ شو. په دې کنفرانس کې د محبوسینو د سربداله کوونکي زیاتوالي او پر محبوسینو او د دوی د کورنیو پر غړیو د محبس د ناوړه اغېزو په باره کې د کنفرانس غړیو هېوادونو ته توصیه وشوه تر څو د حبس د بدیلونو په اړوند هر اړخیزې څېړنې تر سره کړي. همداسې د ملګرو ملتونو پلاویو ته بلنه ورکړل شوه تر څو د آزادۍ د سلبوونکو جزاګانو په عوض دحبس د بدیلونو په هکله لازم تدبیرونه تر لاس لاندې ونیول شي. دې کنفرانس په پای کې یوه ۴۸ ماده ایزه مصوبه هم تصویب شوه چې د هغې په دېرشو مادو کې هېوادونو ته توصیه شوې وه تر څو د جنایي عدالت تر سیوري لاندې په خپلو جنایي سیاستونو کې د حبس بدیلونو ته ځای ورکړي.

همدا رنګه د ۱۹۹۰ کال په کنفرانس کې د کیوبا هېواد په هافانا (هاوانا) ښار کې د حبس د بدیلونو په اړوند ټینګار او توصیې صورت وموند.

بالاخره د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع د ۱۹۹۰ زېږدیز کال د ډسمبر په څوارلسمه، په اته شپیتمه عمومي غونډه کې د دې سازمان د جرمونو د مخنیوي او کنټرول کمیټې د وړاندیز پر بنسټ «د آزادۍ د نه سلبوونکو اقداماتو په هکله د ملګرو ملتونو د قواعدو اقل حد سټندرد» چې د توکیو په قواعدو مشهور دی، تصویب کړل. د دې قواعدو په اتمه ماده کې دولتونو ته توصیه شوی ده چې د مجرم وضعیت او اهلیت، د مجني علیه او ټولنې ګټو ته په پام د آزادۍ سلبوونکي یو شمېر بدیلونه د حبس جزا د بدیل په توګه تطبیق کړي[۱]. د حبس وړاندیز شوي بدیلونه د توکیو قواعدو د اتمې مادې په دویم بند کې عبارت دي له؛ شفاهي مجازاتو (نصیحت) توبیخ «ملامتول»، اخطار ، مشروطه آزادي، اقتصادي مجازات او پولي مجازات لکه ثابته او ورځنۍ نغدي جزاګانې، د مالکیت له سلب سره مصادره، متضرر ته دمال د بیرته ستنولو دستور یا د خسارې جبران، د حکم شاته غورځول یا تعویق او تعلیق، آزمایښتي او قضایي نظارت

[۱] - هماغه، ص ۲۵.

«څارنه»، ټولنې ته د چوپړتیا دستور، د مراقبت مرکزونو ته رجوع ورکول، په کور کې تر څارنې لاندې نیول، له زندان پرته هر ډول چال چلند د پورتینو تدبیرونو له ترکیب څخه.[۱]

د افغانستان په جزایي قوانینو کې د حبس ځینې بدیلونه پېشبیني شوي ؤ، نه د حبس د بدیل تر عنوان لاندې، لکه د تنفیذ تعلیق، مشروطه آزادي، قطعي حبس، معطل حبس، تعطیل حبس او د معاش کسر. د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون په صراحت سره د حبس د بدیلونو په اړه ویلي دي او د هغو ځینې یې پېشبیني کړي، لکه کار په ۳۲۹ مه ماده کې او عامه خدمتونه له ۳۲۵ مې تر ۳۲۸ مې مادې پورې.

د ۱۳۹۶ کال د سلواغې د ۲۵ مې نیټې په نافذه جزا کود کې په نورو هېوادونو کې د مروج حبس د بدیلونو له جملې څخه یوازې د مراقبت دوره ، عام المنفعه خدمتونه، له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیت او په کور کې حبس د حبس بدیل تر عنوان لاندې تصریح شوي دي چې د دې ښوونیزې رسالې په دویم څپرکي کې په تفصیل سره څېړل کېږي.

**(۱) لومړی فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

دولتونه ولې دی ته اړ شول چې د حبس بدیلونه په خپلو جزایي قوانینو کې ځای پر ځای کړي؟

ګډونوال دې په خپل منځ کې مباحثه وکړي.

له دې ګروپي کار څخه موخه د حبس د بدیل جزاګانو اهمیت برجسته کول دي تر څو د عدلي او قضایي چارو متخصصین په عمل کې ترې استفاده وکړي.

[۱] - د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډې مصوبه، د آزادۍ د نه سلبوونکو اقداماتو په هکله د ملګرو ملتونو د قواعدو اقل حد سټنډرد، د ۱۹۹۰ کال د ډسمبر ۱۴ مې نیټې، ۴۵/۱۱۰ ګڼه پریکړه لیک.

## درېيم مبحث: د حبس د بديل موخې:

ډير عوامل دي چې د حبس د مجازاتو اغېزناکتيا له ترديد سره مخ کوي او دولتونه يې اړ کړي دي چې د حبس د جزا له ستونزو څخه د وتلو لارې د حبس په بديلونو کې وپلټي. څو لاملونو ته چې د حبس جزا يې له ترديد سره مخ کړې ده په لنډه توګه اشاره کوو.

**۱. د جرمونو تکرار او تنبيهي موخو ته نه رسيدل[۱]:**

د محبس پلويان په دې باور دي چې د حبس مجازات، مجرمين او نور اشخاص تنبيه کوي او له جرمونو څخه د مخنيوي سبب کېږي. خو کومو څېړنو چې په دې اړوند له ۱۹۸۷ څخه تر ۱۹۹۰ کلونو پورې صورت موندلی دی، ددې عکس څرګندوي.مثلاً په اسپانيا کې ۴۵ سلنه محبوسين د نوي جرم د ارتکاب په دليل په دې موده کې دوباره محبس ته راستانه شوي دي. په امريکا کې يې کچه (٦٠) سلنې ته رسېږي. په همدې بنسټ د حبس د جزا مخالفان وايي چې محبس سربيره پردې چې له جرمونو څخه مخنيوي نه شي کولای، د هغه د ناخوښه او ستوغو شرايطو د تپلو په اساس ددې لامل کېږي چې خپل اغېز له لاسه ورکړي او مجرم بياځلي د جرم مرتکب شي[۲]. البته د جزايي اجراآتو د قانون د دويمې ګڼې ضميمې د لومړۍ مادې په شپږم بند کې د حبس او حجز د بديلونو له موخو څخه يو هم د اصلاح او روزنې د ښې زمينې برابرول او کورنۍ، ټولنې او سوله ئيز ژوندانه ته د محکومينو ستنول تصريح کړيدی.[۳]

---

[۱] - علی حسين، نجفی ابرند آبادی، حقوق جزای عمومی ۲، اقدامات و کيفرهای جايگزين زندان، تقريرات درسی دانشکده حقوق، دانشگاه شهيد بهشتي، تهيه شده توسط رايجان مهرداد، سال ۱۳۷۸ و ۱۳۷۹، ص ۳۸۲.

[۲] - محمد بصير، حقيار اسحق زوی، هماغه اثر ، ص ۲.

[۳] - د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضميمه ،د ۱۳۹٦/۱۲/۱۳ نيټې (۲٦۷)ګڼه تقنيني فرمان

**٢. د محبوس رواني ناوړه اغېزې:**

محبس د محبوس هويت له منځه وړي په ځانګړې توګه په اوږدمهاله حبسـونو کې، چې دمحکوم د غير عادي او يرغليزو (تهاجمي) حرکتونو د اختيارولو موجب کېږي، چې په داسـې حالت کې محبوسـين پخپله په محبس کې د کړکېچ او نا آرامی د منځته راتلو لامل کېږي. حتی له خلاصـون او خوشـې کيدو وروسته د محبس تر ناوړه اغېزو لاندې راځي او په خپل عادي ژوندانه کې له ستونزو سره مخ کېږي[١]. په محکومينو او د هغوی په کورنيو او ټولنې د حبس او حجز له ناوړه اغېزو څخه د مخنيوي لپاره د جزايي اجراآتو د قانون د دويمې ګڼې ضميمې لومړۍ مادې پنځم بند هم اشاره کړيده.

**٣. د مجازاتو د شخصي والي له اصل سره تناقض:**

محبس سربيره پردې چې پر محکوم فشـار واردوي، د هغه کورنۍ د نوموړيله سرپرسـتۍ او مالي ملاتړ څخه محروموي، حتی په ډېرى مواردو کې د حبس د دوران مـالي بـار هم د هغېـه کورنۍ تېـل کېږي (تحميلېږي)[٢].

**٤. د محبس اقتصادي بار:**

د محبسـونو جوړول او سـاتنه د خورا زياتو لګښـتونو غوښتنه کوي او دولت مجبور دی چې هغه جوړ او محبوسـين په کې وسـاتي. چې په پايله کې ، دا لګښـتونه پر ماليه ورکوونکو تحميلېږي. له بلې خوا محبوس په محبس کې له اقتصادي فعاليتونو څخه پاتې کېږي[٣].

د امريکا په متحده ايالتونو کې په ١٩٩٣ زېږديز کلونو کې د نوموړي هېواد له عدليې وزارت څخه له پنځوس سلنې زيات د محبسونو د لګښت زياتوالی ښودل شوی دی چې دا تفاوت د ٢١ او ٣٢ ميلیارده ډالرو تر منځ دی. په انګلسـتان کې په ١٩٩۴ کال کې د ١٣٠ جزايي مؤسسـو اداري لګښـتونه يو نيم

---

[١] - محمد، آشوری، جايگزين های مجازات زندان يا مجازات بينابين، طرح برای دفتر مقابله با مواد مخدر و جرم ملل متحد، نشر گرايش، چاپ دوم تهران، سال ١٣٨٢، ص ۴٠.

[٢] -محمد بصير، حقيار اسحق زوی، هماغه.

[٣] - هماغه

میلیارد پونډه محاسبه شوي دي چې نوموړي ارقام په دې هېوادونو کې د محبسونو د لګښت ډېر چټک پورته تلل (لوړېدل) څرګندوي[1].

په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې کومې څېړنې چې په افغانستان کې د نشه يي توکو او جرمونو لپاره د ملګروملتونو پروژې له خوا تر سره شوې دي، ښايي چې د عدليې وزارت په هر محبوس د کال (۷۰۸) امريکايي ډالره لګوي چې په ورځ کې ۱.۹۳ ډالره محاسبه کيدلای شي. له بلې خوا که چېرې په منځني ډول د محبوس ورځنی عايد ۱.۵ امريکايي ډالره ومنو، نو په کال کې ۴۷۵.۵ ډالره کېږي چې د دولتي لګښتونو مجموعه (ټولګه) په کال کې ۱۲۵۵.۵ ډالره کېږي او دا د افغانستان په څېر يوه هېواد لپاره يو ډير لوړ رقم دی[2]. په دې صورت کې که د محبوسينو مجموعي شمېره (۳۰۰۰۰) نفره محاسبه شي، نو په ورځ کې به يوازې د هغوی د اعاشې او اباتې لګښتونه (۵۷۹۰۰) امريکايي ډالره شي. دا پيسې په کال کې (۲۱۱۳۳۵۰۰) امريکايي ډالرو ته رسېږي. البته د يادونې وړ ده چې دا پيسې يوازې د يو نفر محبوس د اعاشې او اباتې لګښت دی. د ودانۍ، برښنا، اوبو، د روغنياتو د لګښتونو او د هغه پرسونل له معاش پرته چې له محبسونو څخه د ساتنې لپاره مقرر دي يا هغه عوايدو څخه پرته چې شوني ده هر محبوس له محبس څخه بهر درلودل او اوس د حبس د جزا دعملي کيدو پر بنسټ ترې محروم دی، محاسبه شي. دارقم به درې يا څلورچنده (ځلي) البته په هغه موخو کې چې د جزايي اجراآتو د قانون د دويمې ګڼې ضميمې د لومړۍ مادې په څلورم بند کې راغلي دي د محبسونو او د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د لګښتونو کمښت ته يې اشاره کړې ده[3].

---

[1] -محمد ، آشروی، وړاندينی، ص ۴۱

[2] - محمد بصير، حقيار اسحق زوی، وړاندينی ، ص ص ۵ – ٦ .

[3] د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضميمه، وړاندينی.

**۵. د مسؤوليت د حس له منځه تلل (زوال):**

په حبس د شخص محکوميت او له ټولنې څخه د هغه جلا کول، له محکوم څخه ورو، ورو د مسؤوليت منلو حس له منځه وړي کوم وخت چې بيا ځلي ټولنې ته ننوځي د ټولنې په نسبت د مسؤوليت منلو خورا لږ حس لري او يو شمير يې اصلاً د مسؤوليت احساس نه کوي[۱].

**٦. د روغتيايي او اخلاقي کچې ښکته راتلل:**

په ډيری هېوادونو کې د ايډز، توبر کلوز ناروغۍ او نورې ناروغۍ له يوې خوا او د نشه يي توکو ترويج او استعمال له بلې خوا د محبس د ضررونو له جملې څخه قبول شوي او ثبت شوي دي.
کومه څېړنه چې په ۲۰۰۸ زېږديز کال کې په افغانستان تر سره شوې ده ښايي چې د محبوسينو رياست د رسمي آسنادو پر بنسټ په پلچرخي کې ۴۵۰ نفره معتادين شتون لري. په داسې حال کې چې د نومورې څېړنې څيړونکي وايي چې د معتادينو شمير د محبوسينو رياست له خوا له وړاندې شويو ارقامو څخه خورا زيات دی. او زياتوي چې د پلچرخي محبس په دويم بلاک کې چې د (۱۱۰۰) محبوسينو ظرفيت لري، شونې ده د معتادينو شمېر (۸۰۰) کسانو ته ورسېږي. همداسې د همدې څېړنې پر بنسټ، ليکي چې په پيل کې د محبس د محبوسينو لپاره مخدره توکي په وړيا توګه ويشل کېږي، بيا د هغوې د غوښتنې له مخې، يو ګرام هيروئين په (۲۰۰۰) افغانيو پلورل کېږي. همداسې د افغانستان په محبسونو کې د فساد د شتون او کافي نظارتي او روغتيايي امکاناتو د نه شتون په نسبت، نورې ساري ناروغۍ هم له هغو څخه زياتې دي چې په رسمي توګه يې رپوټ ورکول کېږي[۲].
د ليکونکي (محمد بصير ، حقيار اسحق زوی) د ډګري (ميداني) څېړنو پر بنسټ په ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ هـ ش کلونو کې د ځينو په نظر په پلچرخي محبس کې شل سلنه محبوسين له خورا ټيټو روغتيايي چوپړتياوو څخه برخمن دي. په دې محبس کې د اته زره محبوسينو له منځه ۲۰ نفره يې د نشه يي توکيو

---

[۱] - محمد، آشوری، وړانديني، ص ۴۲.

[۲] -د نشه يې توکيو او جرمونو لپآره د ملګرو ملتونو د فتر – پروژه ، له نړيوالو معيارونو اوملي قوانينيو سره په سمون کې د حبس د بديل تطبيق، د ۲۰۰۸ کال مې، ص ٦۹ او ٦۴.

معتادين، ۲۷ نفره يې رواني ناروغان، ۵ نفره يې د ايډز ناروغان او۵۷ نفره يې د توبر کلوز ناروغان ؤ چې تر درملنې لاندي ؤ پاتې نورو رنځورانو ته هيڅ ډول روغتيايي اسانتياوې شتون نه لري[1].

**۷. د غير خطرناکو مجرمينو په نزد د مجرمانه مفکورې زياتېدل:**

د هغه مجرمينو لپاره چې خطرناک نه دي له حد څخه د زياتې جزا څخه استفاده، د محبسونو د مسؤولينو غير معياري چال چلند له يوې خوا او له خطرناکو مجرمينو سره چال چلند له بلې خوا د دې لامل کېږي چې غير خطرناک مجرمين د مساوي غبرګون د ګرګندولو او له خپل ځان څخه د دفاع لپاره په خطرناکو اشخاصو تبديل شي. د داسې حالت دوام له محبس څخه د هغوی له وتلو څخه وروسته د محبوس په نزد باقي پاتې کېږي او د يو خطرناک او عصباني (خشن) شخص په توګه خپل ورځني ژوند ته ادامه ورکوي[2].

**۸. په محبس کې د جمعيت تورم:**

په ډېری هېوادونو کې محبسونه د محبوسينو جوابګوی (ځواب ورکوونکي) نه وي او ورځ تر بلې د محبوسينو زياتېدل په محبسونو کې د هغوې د تورم لامل کېږي. په محبس د جمعيت تورم له يوې خوا د اخلاقي جرمونو زمينه جوړوونکی او د ساري ناروغيو د خپرېدو باعث کېږي او له بلې خوا د هغو اصولو او شرايطو د نقض موجب کېږي چې د محبوسينو لپاره د بشري حقوقو په کنوانسيونونو کې پېشبيني شوي دي[3]. د جزايي اجراآتو د قانون د دويمې ګڼې ضميمې دلومړۍ مادې په دريم بند کې د حبس او حجز بديلونو تطبيق د موخو په هکله داسې اشاره کړې ده: (۳- په محبسونو او د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د محبوسينو او محجوزينو له ګڼې ګونې څخه مخنيوی)[4].

د دې ستونزې د حل لپاره د نړۍ د هېوادونو له هغې جملې د افغانستان په کچه ځينو اقداماتو صورت موندلی چې يو ډول يې د حبس د بديلونو قانون ګزاري ده. په دې لوست کې ان شاء الله کوښښ کېږي

---

[1] محمد بصير، حقيار اسحق زوی، وړانديني، ص ۴.

[2] - هماغه

[3] هماغه

[4] - د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضميمه، وړانديني.

تر څو د نړیوالو معیارونو او نورو هېوادونو د تجربو په پام کې لرلو سره ، د جزا کود کې درج شـوي د حبس بدیلونه توضـیح او تحلیل کړو. له دې امله ، کولای شـو د حبس د بدیلونو موخې په لاندې توګه وشمیرو:

١. له ټولنې سره د توافق د حس پیاوړتیا او زیاتوالی او د مجرم اصلاح (بیا یو ځای والی)؛
٢. د محکوم علیه د فزیکي ځواک د له منځه تللو څخه مخنیوی او د اقتصـادي او ټولنیزې پراختیا په خدمت کې د هغه قرار ورکول؛
٣. د محبسونو د جمعیت کمښت؛
٤. د بیت المال د لګښتونو کمښت؛
٥. د آزادۍ د نه سلبوونکو اقداماتو څخه د استفادې ترویج او دهغو تشریح لړ. تر لړه هغه تضمینونه چې د بدیل په وړاندې افرادو لپاره شتون لري؛
٦. د جزایي عدالت په مدیریت او لارښـوونه کې د ټولنې د مداخلې زیاتوالی او منل په ځانګړې توګه د مجرمانو د اصلاح په مورد کې؛
٧. د فرد په ټولنیزو سـوابقو کې د منفي مخینې رامنځته کېدل چې ټولنې ته د هغه په عادي بیرته راستنېدو کې د هغه د منع کېدو لامل ګرځي.
٨. له کورنۍ، خپلوانو او ټولنې څخه دده د جلا کیدو په تعقیب د محبوس لپاره د روحي صـدمو څخه مخنیوی.
٩. د محکوم علیه پـه کورنۍ او اولادونو د منفي او زیـان راوړونکو اثراتو لـه تپلو او د دوی د شخصیت او ټولنیز مقام او منزلت له تخریب څخه مخنیوی.
١٠. له غیر روغتیایي چاپیریال څخه مخنیوی چې معمولاً له سـاري او وژونکو ناروغیو لکه ایډز، ژیړی (هیپاتایتس)، توبرکلوز او نورو ناروغیو د خپریدولو او پراخیدلو لامل ګرځي.
١١. ( په ټولنه کې د عادي شخص په توګه ) د مجرم ، د محرمیت نه احساس.
١٢. د ټولنې له خوا له محکوم علیه سره مجرمانه چال چلند نه کول( له مجرمانه ټاپې لګولو څخه مخنیوی)

۱۳. د محکوم علیه د مجرمانه افکارو مخنیوی او کمښت (د جرم د تکرار کمښت)؛ او

۱٤. د مجازاتو فردي کول.

**(۲) دویم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنې:**

ستاسې په نظر د حبس بدیل په کوم پړاو کې (له محاکمې د مخه، د محاکمې په جریان کې یا له محاکمې وروسته) ټاکل کېږي.

۱- د حبس د بدیل د ټاکلو خنډونه ووایاست؟ (نوم یې واخلئ).

۲- لطفاً خپل ځوابونه د قوانینو په استناد وړاندې کړئ.

## ځلورم مبحث: د حبس د بديل د ټاکلو شرايط، خنډونه او د حکم سقوط:

په لومړۍ وينا کې د حبس د بديل د ټاکلو شرطونه او په دويمه وينا کې د حبس د بديل د ټاکلو خنډونه او په دريمه وينا کې د هغه د حکم سقوط تر بحث لاندې نيسو.

### لومړۍ وينا: د حبس د بديل ټاکلو شرطونه:

لومړی د حبس د بديل د ټاکلو ماهوي شرطونه او بيا يې شکلي شرطونه تر بحث لاندې نيسو:

#### لومړۍ فرعه: د حبس د بديل د ټاکلو ماهوي شرطونه:

لومړی: د حبس بديل لاندنيو مواردو ته په پام ټاکل کېږي[١].

١. د مرتکبه جرم ډول او خصوصيت.
٢. د مرتکب شخصيت
٣. د جرم د ارتکاب وارونه (دفعات)
٤. د مجنی عليه وضعيت
٥. د جرم نور مخففه لوري (جهات)

پورتني موارد لاندې توضيح کوو:

١. د مرتکبه جرم ډول او خصوصيت: لکه:

أ. د مرتکبه جرم ډول: د حبس د بديلی جزا په ټاکنه کې، د جرم نوعيت په پام کې نيول کېږي مثلاً د حبس بديله جزا په داسې جرايمو لکه د کورني او بهرني امنيت پر خلاف، تروريستي، د تروريزم د تمويل، جنسي تيري، اداري او مالي فساد او د نسل وژنې، بشري ضد او جنگي جرمونو کې جواز نه لري[٢]. په ځينو هېوادونو کې تر دريو کلونو پورې د مجازاتو وړ غير عمدي جرمونو کې د حبس د بديل ټاکنه حتمي ده.

[١] - ١٣٩٦ کال، د افغانستان د جزا کود، ١۴٩ مه ماده.

[٢] - هماغه، د ١٥١ مې مادې دريمه فقره.

ب. د مرتکبه جرم خصوصیت: د حبس د بدیلې جزا په ټاکنه کې، د مرتکبه جرم خصوصیت په پام کې نیول کېږي. مثلاً د مرتکبه جرم ټاکلې جزا له پنځو کلونو څخه زیاته نه وي[1].

٢. د جرم د مرتکب شخصیت: د مجرم سن (عمر)، جنسیت، جسمي یا رواني توانمندي، توانایي، شغل، مهارت او دده اقتصادي او ټولنیزه وضعه له هغه مواردو څخه دي چې د حبس د بدیلې جزا په ټاکنه کې په پام کې نیول کېږي.

همدا رنګه د جرم له ارتکاب څخه د مجرم پښیمانتوب او یا نه پښیمانتوب، د ارتکاب عمدي توب یا سهوې والی، هم له هغه مواردو څخه دي چې د حبس د بدیلې جزا په ټاکنه کې به په پام کې ونیول شي.

٣. د جرم د ارتکاب وارونه(دفعات): داسې موارد لکه د مجرم متکرروالی، یا دا چې نوموړی د لومړي ځل لپاره د جرم مرتکب شوی دی، له هغه مواردو څخه دی چې د حبس د بدیلې جزا په ټاکنه کې په پام کې نیول کېږي. په ځینو هېوادونو کې ، د لومړني جرم پر ارتکاب د ټاکلي وخت تیریدل، یا د حیثیت اعاده، د حبس د بدیلې جزا د ټاکلو لپاره، قید ایښودل کېږي.

٤. د مجني علیه وضعیت: له جرم څخه د راولاړ شوي مادي یا معنوي زیان راوړونکو آثارو د لیرې کولو یا کمښت په موخه د جاني مساعدت ته د مجني علیه اړتیا، د حبس د بدیلې جرا په ټاکنه کې په پام کې نیول کېږي.

٥. د جرم له ارتکاب څخه راولاړې شوې پایلې: که چیرې د جرم ارتکاب، د مجني علیه په نزد، عقده رامنځ ته کړي وي او له جاني څخه د غچ اخیستلو غوښتونکي وي ، په دې صورت کې به محکمه د حبس بدیلې جزا ته ترجیح ورنه کړي، بلکې په زندان کې به د جاني محبوس والی د ټولو په ګټه و انګېري.

٦. د جرمو نو مخففه لوري (جهات): د جرم مرتکب چې د جزا له تخفیف څخه مستفید شوی دی، محکمه به نوموړی د حبس له بدیل څخه مستفید نه کړي[2].

---

[1] - هماغه، د ۱۵۱ مې مادې لومړۍ فقره.

[2] - هماغه، ۱۵۳ مه ماده

په پورتنو مواردو سربیره د حبس بدیل تر لاندنیو شرایطو لاندې ټاکل کیدای شي:

الف- د مرتکبه جرم اصل جزا باید تر پنځو کلونو پورې د حبس جزاوي. یعنې په هغه صورت کې چې د نورو مخففه حالتونو پر بنسټ د مرتکبه جرم جزا تر پنځو کلونو پورې تخفیف موندلی وي، محکمه نه شي کولای خپل حکم د حبس د بدیل پر مبنا صادر کړي[1].

ب- د جرم مرتکب باید له جرم څخه وارد شوې خساره ورکړې وي.

ج- د متضرر رضایت یې تر لاسه کړی وي.

د- د جرم مرتکب ، د محکمې په حکم کې درج شویو شرایطو رعایت او د حبس د بدیل پورې اړوندو قواعدو د صادقانه سرته رسولو ژمنه کړې وي.

هـ- د جرم مرتکب د ښو اخلاقو او په راتلونکي کې د جرم د نه ارتکاب ژمنه کړې وي[2].

محکمه په قانون کې د درج شویو شرایطو په شتون سره خپل حکم د حبس د بدیل پر مبنا صادروي. د حبس د بدیل له نامه څرګندېږي چې محکمه په لومړي قدم کې په حبس حکم کوي، بیا د حبس په عوض، په جزا کود کې تصریح شوی د حبس، په یوه بدیل حکم کوي.

**دویمه فرعه: د حبس د بدیل د ټاکلو شکلي شرطونه:**

د حبس د بدیل د ټاکلو پر ماهوي شرطونو سربېره چې په لومړۍ وینا کې بیان شول، د هغه شکلي شرطونه هم د رعایت وړ دي.

د محکمې په حکم کې د لاندنیو مواردو رعایت، د حبس د بدیلې جزا د ټاکلو شکلي شرایطو په توګه، اړین دي:

١. د حبس له بدیل څخه د استفادې د دلایلو ذکر کول.
٢. د حبس پر بدیل د نظارت د مرجع مشخصول.

---

[1] - هماغه، ۱۵۳ مه ماده

[2] - د حبس او حجز د بدیلونو په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضمیمې د څلورمې مادې لومړۍ فقره.

۳. د نظارت کوونکې مرجع داوامرو په اجرا د محکوم علیه مکلفیت.
٤. د حبس د بدیل د شرایطو د نه رعایتولو او د نظارت کوونکې مرجع د اوامرو د نه اجرا د پایلو ذکر کول، او محکوم علیه ته یې ابلاغ[1].
٥. د حبس د بدیل د نوعیت (ډول) په ټاکنه کې د محکوم علیه د موافقې په پام کې نیول ، او
٦. د محکوم علیه د رضایت اخیستل، په هغه صورت کې چې د حبس د بدیل جزا، د عام المنفعه خدمتونه سرته رسول وي.

د پنځم او شپږم مورد په اړوند د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (۲) گنې ضمیمې اوومه ماده داسې تصریح کوي: « (۱) محکمه د حبس په بدیل د حکم د صادرولو په وخت کې د محکوم علیه موافقه او د حجز په بدیل کې د حجز یا حبس د ډول په اړوند د محجوز او د هغه د قانوني ممثل موافقه په پام کې نیسي.»

| |
|---|
| **(۳) درېیم فعالیت** |
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| د «محکوم علیه د موافقې» او د «محکوم علیه رضایت» تر منځ توپیر چې د جزایي اجراآتو د قانون (۲) گنه ضمیمې د اوومې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې تصریح شوي دي، څه دي؟ او آیا ددې دواړو مواردو رعایت پر محکمه لازمي دی؟ |

## دویمه وینا: د حبس له بدیل څخه د استفادې د ممنوعیت موارد:

اصل په دې دی چې محکمه کولای شي د هغه جرم مرتکب چې د هغوی د قانوني ټاکلې جزا اکثر حد تر پنځو کلونو پورې حبس وي د حبس په بدیله جزا محکوم کړي[2]. خو د جزا کود ۱۵۱ مې مادې په دریمه فقره کې په دې اصل یوه استثنا وضعه شوې ده چې د هغې پر بنسټ د داسې جرمونو مرتکبین لکه د کورني او بهرني امنیت پر خلاف، تروریستي، د تروریزم د تمویل، جنسي ـ تېري، اداري او مالي

[1] - د ۱۳۹٦ کال د جزا کود ۱۵۱ مه، ۱۵۳ مه، ۱۵۴ مه، او ۱۵۵ مه ماده
[2] - هماغه، د ۱۵۱ مې مادې لومړۍ فقره.

فساد، او د نسل وژنې، بشري ضد، جنګي، د دولت پر خلاف د تجاوز، د حبس له بدیل څخه نه مستفید کېږي[۱]. همداسې د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمې لسمې مادې د جزا کود د ۱۵۱ مې مادې دریمه فقره کې درج شوی عین موارد ذکر کړي دي او سربېره پر دې ، د قتل، د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي، د نشه يې توکیو د قاچاق او د انسان تښتونې د جرمونو مرتکبین او متکرر مجرمین یې هم د حبس له بدیل د استفادې څخه محروم کړي دي.

| (۴) څلورم فعالیت |
| --- |
| **مباحثوي پوښتنه:**<br>د حبس له بدیل څخه د استفادې د ممنوعیت موارد:<br>- د جزا کود ۱۵۱ مې مادې په دریمه فقره کې، ۹ مورده ذکر دي. خو<br>- د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمې په لسمه ماده کې، ۱۴ مورده ذکر دي. دا پنځه اضافي موارد عبارت دي له: قتل، د ښځې پر ضد تاوتریخوالی، د نشه يي توکو قاچاق، اختطاف جرمونو او متکررو مجرمینو څخه.<br>پوښتنه: د حبس له بدیل څخه د استفادې د ممنوعیت د مواردو په اړوند، کوم قانون د اعتبار وړ دی او ولې؟ |

**نوټ:** د حبس له بدیل څخه د استفادې د ممنوعیت د مواردو له جملې څخه، د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمې په لسمه ماده کې ، قتل دی، چې په مطلق ډول ذکر شوی دی چې عمدي قتل او خطا قتل رانغاړي. د لیکونکي په نظر، غوره دا وه چې حکم داسې تعبیر کېده چې خطا قتل ورڅخه مستثنا شوی وي.

## دریمه وینا: د حبس د بدیل د حکم د سقوط موارد:

لکه څرنګه چې وړاندې بیان شول، محکمه د حبس د بدیل د تطبیق شرایط او پر محکوم علیه نظارت کوونکې مرجع مکلفه ده د محکمې په حکم کې د درج شویو شرایطو له نه مراعاتولو څخه اړوندې

[۱] - هماغه د ۱۵۱ مې مادې دوهمه فقره

ښارنوالۍ ته رپوټ ورکړي. په دې صورت کې ښارنوالي د لسو ورځو په موده کې وړاندې شوی رپوټ څېړي. د سرغړونې د تثبيت په صورت کې موضوع د حکم صادروونکې محکمې ته وړانديز کوي. محکمه د قانون له احکامو سره سم په دې هکله تصميم نيسيـ[1]. دا تصميم به دحبس د بديل ډول ته په کتنه، متفاوت وي چې لاندې يې توضيح کوو:

**لومړۍ فرعه: دمحکوم عليه په واسطه د محکمې د حکم نه رعايتول:** که چېرې محکوم عليه د محکمې حکم رعايت نه کړي، محکمه کولای شي د لومړي ځل لپاره تر يو نيم چنده د هغه د مراقبت دوره تمديد کړي. که چيرې محکوم عليه د محکمې د حکم له اجراء څخه د دوه يم ځل لپاره ډډه وکړي، د حکم صادروونکې محکمه، مراقبت لغوه او د مراقبت د دورې پاتې موده په تنفيذي حبس بدلوي[2].

| (۵) پنځم فعاليت |
|---|
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| ستاسې په نظر پاتې موده، کومه موده ده؟ هغه موده چې په ابتدايي حکم کې ټاکل شوې ده يا هغه موده چې د سرغړونې پر بنسټ يو نيم چند ته اضافه شوې ده؟ |

**دويمه فرعه: د عامه خدمتونو له ترسره کولو څخه سرغړونه:** که چيرې محکوم عليه له مؤجه عذر پرته ، د عامه خدمتونو له تر سره کولو يا د کار د تر سره کولو لپاره له ټاکليو شرايطو څخه تخلف وکړي، لومړی ځل زيات نه زيات تر (۸۰) ساعتونو پورې د هغه د عامه خدمتونو د تر سره کولو په ساعتونو کې زياتېږي، د تکرار په صورت کې محکمه کولای شي ښارنوال د وړانديز پر بنسټ د هغه د عامه خدمتونو پاتې موده په حبس بدله کړي، په دې صورت کې محکوم عليه له پاتې ساعتونو څخه د هرو ۸ ساعتونو په وړاندې يوه شپه او ورځ زنداني کېږي[3].

---

[1] - د جزايي اجراآتو د قانون د دوهمې ګڼې ضميمې، ۱۲ مه ماده

[2] د ۱۳۹٦ کال د جزا کود ۱۵۹ مه ماده

[3] - د جزا کود د ۱٦٦ مې مادې متن: ( که چيرې محکوم عليه له مؤجه عذر پرته،د عامه خدمتونو له تر سره کولو يا د کار د تر سره کولو لپاره له ټاکلو شرايطو څخه تخلف وکړي، لومی ځل زيات نه زيات تر (۸۰) ساعتونو پور ې دهغه د عامه خدمتونو د تر سره کولو په ساعتونو کې

**درېيمه فرعه:** په کور کې د حبس د شرايطو نه رعايتول: که چيرې محکوم عليه په کور کې د حبس شرايط چې د مخه د محکمې په حکم کې تصرـــيح شـــوي دي، رعايت نه کړي. دا جزا په محبس کې پر حبس بدلېږي[١].

**نوټ:** د بل جرم د ارتکاب په صورت کې په تنفيذي حبس د حبس د بديل تبديليدل:
د جزا کود ۱۵۲ مه ماده: «که چيرې محکوم عليه د حبس د بديلې جزا د تيرولو په وخت کې د بل جرم په تور په حبس محکوم شي، د حبس د بديلې جزا پاتې شوې موده په تنفيذي حبس بدله او دنوي جرم له مجازاتو سره يو ځاى تطبيقېږي.».

**(٦) شپږم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**
د جزا کود ۱۵۲ مه ماده « د بل جرم په تور په حبس محکوم شي» عبارت په اړوند له لاندنيو تفســيرونو څخه کوم يو صحيح دى؟
الف – د بل جرم په تور په حبس محکوم شي، چې هغه جرم د حبس په بديل له محکوميت د مخه، مرتکب شوى ؤ، خو په هغه وخت کې کشف شوى نه ؤ او اوس کشف شو.
ب- د بل جرم په تور په حبس محکوم شي، چې هغه جرم د حبس د بديل د تيرولو په جريان کې مرتکب شوى دى.

زياتيږي، د تکرار په صورت کې ، محکمه کولاى شي د اړوند څارنوال د وړانديز پر بنســټ د هغه د عامه خدمتونو پاتې موده په حبس بدله کړي.
په دې صورت کې محکوم عليه له پاتې ساعتونو څخه د هرو (٨) ساعتونو په وړاندې يوه شپه او ورځ زنداني کيږي.
[١] - د جزا کود د ١٦٨ مې مادې پنځمه فقره.

## د لومړي څپرکي پایلیزه:

په لومړي څپرکي کې په طرحه شوی موضوعاتو له بحث کولو څخه وروسته دې پایلو ته ورسیدلو:

١. د حبس بدیل هغه جزا ده چې د جرم پر مرتکب د حبس په عوض د مقیدې خوشـــې کېدنې په ډول د محکمې له خوا حکم کېږي.

٢. د افغانسـتان جزا کود د حبس د بدیل لپاره دوه ګونی وصـف ورکړی دی، کله یې هغه د الزامي اصلي جزا په توګه چې الزامي ده په کار وړې ده او کله یې د اصلي جزا د بدیل په توګه چې غیر الزامي ده.

٣. د حبس بدیل لومړي ځل لپاره په ١٨٢٨ کال کې په فرانســه کې مطرح شــو؟ بیا یې په نورو هېوادونو کې پراختیا وموندله. تر څو د ١٩٩٠ زېږدیز کال د ډســمبر په څوارلســمه د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي مجمع په اته شپیتمه غونډه کې تصویب شو. او په افغاسنتان کې په ١٣٩٣ کال کې د جزایي اجراآتو قانون او په ١٣٩٦ کال کې د جزا کود کې تنظیم شو.

٤. د هغه عواملو له جملې څخه چې د قانون جوړوونکو پام یې د حبس بدیل ته واړاوه عبارت دي له: پر محبوسینو رواني ناوړه اغېزې،د مجازاتو د شخصيې والي له اصل سره تناقض، پر دولت د محبس دروند مالي بار، د محبوس په نزد د مســؤولیت د حس له منځه تلل، په محبس کې د زندانیانو د روغتیایي او اخلاقي کچې ښـکته والی، او د محبوس په نزد د نورو مجرمانه مفکورو منځ ته راتلل.

٥. د حبس د بدیل ټاکل د ماهوي او شکلي شرایطو درلودونکي دي چې باید رعایت شي.

٦. اصل په دې دی چې محکمه کولای شي د هغه د جرم مرتکب چې د هغوی د قانوني ټاکلي جزا اکثر حد تر پنځو کلونو پورې حبس وي د حبس په بدیله جزا محکوم کړي خو یو شمېر جرمونه له دې حکم څخه مســتثنی دي او مرتکبین یې د حبس له بدیل څخه مســتفید کیدای نه شي،او هغه جرمونه عبارت دي له د کورني او بهرني امنیت پر خلاف ، تروریســتي، د تروریزم تمویل، جنسيې تیري، اداري او مالي فساد، نسل وژنې ، بشري ضد، جنګي، د دولت پر خلاف تجاوز، قتل، د ښځې پر وړاندې تاو تریخوالی د نشه یې توکیو قاچاق او اختطاف او متکرر مجرمین.

٧. که چېرې د حبس په جزا محکوم د محکمې په حکم کې له درج شــویو شرایطو څخه سرغړونه وکړي، د حبس بدیله جزا ساقط او پاتې موده، په تنفیذي حبس تبدیلېږي.

# دويم څپرکی

## د افغانستان په نافذه قوانينو کې د حبس بديل

**موخې:**

د دې روزنيزې ناستې په پای کې به ګډونوال وتوانېږي تر څو:

١. د حبس د بديل موارد د افغانستان د جزا کود او جزايي اجراآتود قانون د (٢) ګڼې ضميمې مطابق تشخيص او توضيح کړي؛

٢. د حبس د بديل له مواردو څخه د شرايطو د شتون پر مهال استفاده وکړي؛ او

٣. د حبس بديلونه د قانون د احکامو مطابق تطبيق کړي.

**عنوانونه:**

- د افغانستان د جزا په کود کې د حبس د بديل موارد:
  - د مراقبت دوره؛
  - د عامه خدمتونو تر سره کول؛
  - له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت ؛ او
  - په کور کې حبس .

# دويم څپرکی

## د افغانستان په نافذه قوانينو کې د حبس بديل

د حبس بديل لومړی د ۱۳۹۳ هـ ش کال د غوايي د ۱۵ مې نيټې په ۱۱۳۲ گڼه رسمي جريده کې خپور شوي د جزايي اجراآتو قانون کې د څلورم باب په شپږم فصل کې په (۳۲۵ تر ۳۲۹) مادو کې کې تنظيم شوی ؤ. بيا د ۱۳۹٦ هـ ش کال د غوايي د ۲۵ مې نيټې په ۱۲٦۰ گڼه رسمي جريده کې خپور شوي د جزا کود د حبس بديل په پراخه توگه په (۱۴۵ تر ۱٦۸) مادو کې تنظيم کړ. د هغه په تعقيب د ۱۳۹٦ هـ ش کال د کب د ۱۵ مې نيټې په ۱۲۸٦ گڼه رسمي جريده کې خپره شوې د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (۲) گڼه ضميمه په اتو څپرکو او ٦۷ مادو کې نافذه شوه او د هغې په انفاذ سره د پورته ياد شوي جزايي اجراآتو قانون له (۳۲۵ څخه تر ۳۲۹ مې) مادې لغوه شوې. دا ضميمه د حبس او حجز د بديلې جزا د تطبيق او تنفيذ په ډول پورې د اړوندو چارو د تنظيم په موخه وضع شوې ده .

دا څپرکی د حبس د بديل احکام د جزا کود له (۱۴۵ څخه تر ۱٦۸ مې) مادی او د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون د (۲) گڼې ضميمې په رڼا کې څېړي او په څلورو مبحثونو مشتمل دی. څرنگه چې د حبس د بديل جزاگانې په څلور ډوله دي[1] او هر ډول يې په خپلواک مبحث کی څېړل کېږي، په لومړي مبحث کې د مراقبت دوره تعريفوو، د مراقبت د دورې موارد، د مراقبت د دورې کمې او کيفي شرايط او د مراقبت د دورې لغوه کول توضيح کوو. په دويم مبحث کې عام المنفعه خدمتونه تعريفوو او د هغو ډولونه تشخيصوو، د عامه خدمتونو د استحصال موسسې او اداري به مشخصې کړو، د عام المنفعه خدمتونو پورې اړوند شرايط، د عام المنفعه خدمتونو قطعيت او لغوه کول په هر اړخيزه توگه تر بحث لاندې نيسو. په درېيم مبحث کې له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت تعريفوو، کمي او کيفي شرايط به يې تشريح کړو. او د جزا کود له درج شويو نورو مؤيداتو

[1] -هماغه، ۱۵۰ مه ماده.

سره به يې توپير تر بحث لاندې ونيســـو. په څلورم مبحث کې به : په کور کې حبس تعريف د هغه کمی او کيفي شرايط او له هغه شخه نظارت به د بحث لاندې ونيسو.

**(۷) اووم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنې:**

۱. آيا قاضي کولای شي د مراقبت په دوره کې د مراقبت د دورې له مواردو څخه له يو مورد څخه زيات پر محکوم عليه باندې حکم وکړي؟

۲. آيا د مراقبت د دورې موده د محکمې د حکم له صادرېدو وروسته کمښت يا زياتوالی مومي؟

الف – که چېرې کمښت مومي، نو څرنگوالی يې توضيح کړئ؟

ب – که چېرې زياتوالی مومي، نو څرنگوالی يې توضيح کړئ؟

## لومړی  مبحث: د مراقبت دوره:

په دې مبحث کې د مراقبت دوره تعريفوو، د مراقبت د دورې ډولونه، کمي او کيفي شرايط، د تطبيق وړ موارد او د مراقبت د دورې له شرايطو څخه د سرغړونې عواقب تر مطالعې لاندې نيسو.

### لومړۍ وينا: د مراقبت د دورې تعريف:

د مراقبت دوره د جزا کود د ١٥٨ مې مادې پر بنسټ تعريف شوې ده . د زيات وضاحت لپاره د مراقبت دوره په لغت او اصطلاح کې تعريفوو:

**الف: د مراقبت دوره په لغت کې:**

د مراقبت د دورې اصطلاح له دوه کلمو، دوره او مراقبت څخه مرکبه ده. دوره په لغت کې د ټاکلي زمان د مودې په معنا استعمالېږي او مراقبت د ساتلو ، نګهبانۍ او حفاظت په معنا په کار وړل کېږي يعنې د يوې ټاکلې زمانې لپاره ساتل، يا حفاظت کول.

**ب: د مراقبت دوره په اصطلاح کې:**

د مراقبت دوره له هغه زمانې مودې څخه عبارت ده چې د جرم مرتکب د محکمې د حکم پر بنسټ د جزا کود په ١٥٨ مه ماده کې له درج شويو مواردو څخه له يو يا څو مواردو څينې اکثر حد تر پنځو کلونو پورې محرومېږي.

لکه څرنګه چې د مراقبت اقل حد دوره  په قانون کې نه ده تصريح شوې. خو دې ته په پام چې د حبس بديل د حبس عوض دی او د حبس اقل حد درې مياشتې دی. نو له دې امله د حبس د بديل اقل حد هم درې مياشتې کيدای شي.

**دويمه وينا: د مراقبت د دورې موارد:**

د مراقبت د دورې موارد د افغنستان جزا کود په ۱۵۸ مه ماده کې په لاندې توګه پيشبيني شويدی:

۱. په ټاکلي ځای کې اوسيدل؛

۲. په ټاکلي ځای يا ځايونو کې د اوسيدو يا تردد منع؛

۳. په مياشتو يا له هغو څخه په کمومشورتي غونډو کې په ګډون کولو ملزمول؛

٤. حرفه زده کول يا د زده کړوييزو او مهارتي دورو تيرول؛

۵. له جرم څخه د راپيدا شـــوو مادي يا معنوي زيان اړوونکو له اثارو د ليرې کولو يا راکمولو لپاره له مجني عليه سره مرسته او د مجني عليه د رضايت تر لاسه کول؛

٦. د پوليسو دفتر يا هغې مرجع ته چې محکمه يې ټاکي، حاضري ورکول؛

۷. له هغو اشـخاصـو سره د معاشرې پريښـودل چې محکمه له هغوی سره د معاشرت د محکوم عليه لپاره مضر تشخيصوي؛

۸. په هغو ټاکلو کارونو د بوختيدو منع، چې د جرم د ارتکاب زمينه برابره کړي؛

۹. د ښوونې او روزنې، د کورني او ټولنيز معاشرت د آدابو په زده کولو او په هغوی د پابندۍ الزام؛ او

۱۰. د رواني، رفتاري او جسماني اختلالاتو درملنې ته اقدام.

محکمه د جرم او د هغه د مرتکب پورې د اړوندو اوضــاعو او شرايطو، په پام کې لرلو سره، متهم د پورته ذکر شـــويو مواردو څخه د يوه يا څو په اجرا، محکوموي. د زيات وضــــاحت لپاره ، پورتني موارد د څو ويناوو په ترڅ کې په لاندی توګه توضيح کوو[1].

**۱. په ټاکلي ځای کې اوسيدل:**

په ټاکلي ځای کې اوســـيدل د «مراقبت د دورې » له مواردو څخه لومړنی مورد دی چې محکمه محکوم عليه په نوموړي ځای کې په اوســـيدو، د حبس د بديلې جزا په توګه محکوموي، او محکوم عليه مکلف

[1] -هماغه، ۱۵۸ مه ماده.

دی هلته یوه ټاکلې موده تېره کړي او د محکمې له اجازې پرته نه شي کولای هغه ځای ته تغییر ورکړي، له دې پرته د محکمې له حکم څخه سرغړوونکی انګېرل کېږي.

د اوسېدو د ځای په ټاکنه کې د محکمې د صلاحیت په اړه لاندینۍ پوښتنه د طرحې وړ ده:

| (۸) اتم فعالیت |
|---|
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| آیا محکمه د اوســیدو د ځای په ټاکنه کې په بشــپړه توګه مختاره ده؟ د مثال په توګه شــخص د جرم د ارتکاب پر مهال د ولایت په مرکز کې ژوند کاوه. آیا قاضي کولای شي ددې ولایت یا بل ولایت یوه ولسوالي د محکوم علیه، د اوسېدو لپاره وټاکي؟ |
| د حبس او حجز د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمې د څوارلسمې مادې (لومړۍ فقرې) په رڼا کې ځواب ورکړئ. |

د محکوم علیه په واسطه له عذر پرته د اوسیدو ځای د تغییر په هکله، لاندینۍ نیوکه د طرحې وړ ده:

| (۹) نهم فعالیت |
|---|
| **انتقادي تفکر:** |
| د محکوم علیه په واسطه له عذر پرته د اوسیدو ځای د تغییر په حکم کې د قوانینو تر منځ تعارض: |
| - ( د جزا کود ۱۵۹ مې مادې) ته په پام ، که چیرې محکوم علیه د محکمې حکم رعایت نه کړي (یا د اوســیدو ټاکلي ځای له عذر پرته تغییير کړي) د دې سرغړونې مؤیده داده چې د لومړي ځل لپاره ، د مراقبت دوره تر یو نیم چنده پورې د تمدید وړ ده او د سرغړونې د تکرار په صــورت کې د مراقتب حکم لغوه او د مراقبت د دورې پاتې موده په تنفیذي حبس تبدیلېږي. |

- خو د (حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (۲) گڼه ضمیمې د څوارلسمې مادې د پنځمې فقرې صراحت ته په پام د محکوم علیه په واسطه له عذر پرته د اوسیدو د ځای تغییر، دوه حالته لري:

۱. که چیرې په نوی ځای کې د مراقبت د دورې تمدید، د تنفیذ او نظارت امکان ولري، محکمه په نوي ځای کې د مراقبت دوره ، یوه میاشت زیاته تمدید وي.
۲. که چیرې په نوي ځای کې د مراقبت د دورې تمدید، د تنفیذ او نظارت امکان ونه لري، محکمه د مراقبت دوره لغوه کوي او د مراقبت د دورې پاتې موده په تنفیذي حبس تبدیلوي.

آیا ستاسې په نظر دا دوه قوانین یو له بل سره متعارض دي یا دا چې کومه بله توجیه کولای شئ؟

**۲. په ټاکلي ځای یا ځایونو کې د اوسېدو یا تردد منع:**

په ټاکلي ځای یا ځایونو کې د اوسېدو منع یا په ټاکلي ځای یا ځایونو کې د تردد منع «د مراقبت د دورې» له مواردو څخه دویم مورد د حبس د بدیلې جزا په حیث پیشبیني شوی دی. محکمه کولای شي د حبس د بدیلې جزا په توگه، د جرم مرتکب په یو ټاکلي ځای یا ځایونو کې له اوسیدو یا په ټاکلي ځای یا ځایونو کې له تردد څخه منع کړي. د ممنوعه ځای یا ځایونو ټاکل د محکمې په صلاحیت صورت مومي. دا ممنوعیت په حقیقت کې یو ډول جزا ده چې د عمومي ښیگڼو او پخپله د مرتکب د خصوصي ښیگڼو د تحقق په موخه، په کار وړل کیږي.

که چیرې محکوم علیه، د محکمې حکم «په ټاکلي ځای یا ځایونو کې د اوسېدو یا تردد د منع» په اړوند رعایت نه کړي. د جزا کود (۱۵۹) مې ماده کې درج شوی حکم پرې تطبیقیږي.

**(١٠) لسم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**
په ټاکلي ځای یا ځایونو کې د اوســیدو یا تردد منع د جزا کود ١٥٨ مې مادې په دویم بند کې د حبس د بدیلې جزا په توګه او د جزا کود لـه ١٩٣ مې تر ١٩٦ مې مادې پورې د آزادۍ د تحدیدوونکو تأمیني تدبیرونو په توګه پېشبیني شوي دي. آیا د قانون جوړوونکي دا میتود توجیه کولای شو؟

### ٣. په مشورتي غونډو کې ګډون:

په مشـــورتي غونډو کې ګډون د «مراقبت د دورې» لـه مواردو څخه دریم مورد د حبس د بدیلې جزا په توګه پېشـــبیني شـــوی دی. محکمه کولای شي د جرم مرتکب ملزم کړي تر څو په اوونیزو یا میاشـــتنیو غونډو کې ګډون وکړي[1]. په دارنګه غونډو کې مرتکب- په حضـور مکلفول، مجازات انګېرل شـوي دي، خو دا مجازات د مرتکب د اصـلاح او روزنې په موخه پرې تطبیقېږي. هغه اشـخاص په داسـې مجازاتو محکومېږي چې جرایم یې د معاشرت د آدابو د نه رعایت څخه راولاړ شـــوي یا د ناوړه اخلاقو څخه راولاړ شـــوي یا داســـې نور وي. د دې جزا د تطبیق څرنګوالی ( د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضمیمه) کې پېشبیني شوی دی[2].

که چېرې محکوم علیه لـه مؤجه عذر پرته د محکمې حکم (په مشـــورتي غونډو کې د ګډون ) رعایت نه کړي، د ضـمیمې د ١٦ مې مادې لـه ٥ فقرې سره سـم د جزا کود د ١٥٩ مې مادې په دویمه فقره کې درج شـــوی حکم پرې تطبیقېږي. لکه څرنګه چې لیدل کېږي، د ١٥٩ مې مادې دویمې فقرې ته احاله پایله محکوم علیه د نوموړي په لومړۍ فقره کې لـه درج شـــوي حفیف برخورد څخه چې د مراقبت د دورې تمدید دی، محروموي. نو د جزا کود په پرتله د ضـــمیمې غبرګون شـــدید دی، خو د مقابل لورې لخوا په ضمیمه کې دوه ډوله تساهل هم لیدل کېږي:

---

[1] - رجوع وکړئ د جزا کود د ١٥٨ مې مادې دریم بند او د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضمیمې ١٦ مې مادې ته

[2] - د جزایي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضمیمه ١٦- مه ماده.

يو: په يوه غونډه کې يې ګډون معاف ګڼلی دی.
دو: مؤجه عذر يې په رسـمیت پېژندلی دی. په دې معنی څوک چې د مؤجه عذر په سـبب په غونډو کې ولو که له يوې غونډې زيات وي، حضـور ونه مومي، نو له هغه سره شـديد سـلوک صـورت نه نيسي. د عذر د مؤجه والي تشخيص د قاضي له موضوعي صلاحيتونو څخه ګڼل کېږي.

**٤. حرفه زده کول يا د زده کړه ييزو او مهارتي دورو تيرول:**

حرفه يا د زده کړه ييزو او مهارتي دورو تيرول ( دحبس د بديلې جزا په توګه) د مراقبت د دورې له مواردو څخه ځلورم مورد پېشـبيني شـوی دی. محکمه په لاندنيو حالاتو کې مرتکب په حرفه زده کولو يا د زده کړه ييزو او مهارتي دورو په تيرولو مکلفوي:

١. په هغه صـورت کې چې د جرم ارتکاب د شـخص له وزګارتيا او د مهارت له نه لرلو څخه راولاړ شوی وي.
٢. په هغه صورت کې چې شخص بې سواده يا هغه ته د زده کړو د دوام زمينه شونې نه وي.
٣. په هغه صورت کې چې د شخص حرفوي مهارت ناکافي وي يا د هغه د ژوندانه تکافو ونه کړي.

په حرفه زده کولو يا د زده کړه ييزو او مهارتي دورو په تېرولو د جرم د مرتکب محکوميت له يوې خوا د حبس د بديل مجازات دي، او له بلې خوا د مرتکب د ذاتي خلا (تشـــې) ډکول دي. ځکه که چېرې هغه خلاګانې چې د مرتکب په شـخصيت کې وي او د جرم د ارتکاب عامل شـوې وي، ډکې نه شي، شـونې ده د دويم ځل لپاره د جرم مرتکب شي.
د زده کړه ييزو غونـډو د جوړولو ډول او د تطبيق څرنګوالی يې د حبس او حجز د بـديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون د (٢) ګڼې ضميمې له دويمې تر ځلورمې فقرې، پورې تنظيم شويدی.
که چېرې محکوم عليه ( د حرفې زده کړه يا د ښـــوونيزو او مهارتي دورو تېرولو) په جزا کې د محکمې حکم او يـا د مرکز مقررات رعـايـت نـه کړي، متخلف (سرغړوونکی) ګڼـل کېږي او د جزايي اجراآتو د قانون د (٢) ضـميمې د ١٧ مې مادې له ٥ فقرې سره سـم د لومړي ځل لپاره ورته اخطار ورکول کېږي او د تکرار په صـــورت کې محکمې ته راجع کېږي او محکمه کولای شي د لومړي ځل لپاره د مراقبت دوره

يو نيم چنده زياته کړي او د سرغړونې د تکرار په صـورت کې د جزا کود د ۱۵۹مې مادې حکم پرې پرې تطبيقېږي.

اړينه وه چې د ضـميمې د ۱۷مې مادې ۵ فقره د جزا کود د ۱۵۹مې مادې ۲ فقرې ته احاله شـوې وای، ځکه چې د ۱۵۹مې مادې د لومړۍ فقرې حکم چې د مراقبت د دورې يو نيم چند تمليد څخه عبارت دی، د ضـــميمې د ۱۷مې مادې په ۵ فقره کې تصرــيح شـــوې ده او اړينه نه ده چې په مکرر ډول په هغه حکم وشي. په دې ناســمې احالې سره، په ظاهري بڼه د مراقبت دوره دوه ځلې تمديديږي او هر ځلې يو نيم چند. لومړی ځل د ضميمې د ۱۷مې مادې د ۵ فقرې د صراحت پر بنسټ او دويم ځل د جزا کود د ۱۵۹مې مادې د لومړۍ فقرې پر بنسټ او وروسته د دوه ځلي تمديد څخه (د ۱۵۹مې مادې له ۲ فقرې سره ســم) د مراقبت دوره لغوه او پاتې موده په حبس تبديليږي. احتمالاً چې دا کار د قانون د ناســم تعبير له امله وي، نه هدفمندانه.

**۵. له زيانمن سره مرسته:**

له زيانمن سره مرسته، د مراقبت د دورې له مواردو څخه پنځم مورد ( د حبس د بديلې جزا په حيث) پېشبيني شوی دی. محکمه کولای شي د زيانمن د مادي يا معنوي اړتياوو، د محکوم عليه د مالي وضعيت او شرايطو په پام کې نيولو سره، د مراقبت د نورو مواردو په محکوميت سربېره، محکوم عليه له زيانمن سره په مادي مرستې يا معنوي ملاتړ مکلف کړي.

د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضميمې د اتلسمې مادې په دويمه او دريمه فقرو کې مادي مرسته او معنوي ملاتړ داسې تعريف شوي دي:

(۲) فقره: له زيانمن سره مادي مرسته: د مرتکب له جرمي عمل څخه د راپيدا شوي اوښتي تاوان جبران دی.

(۳) فقره: د زيانمن معنوي ملاتړ: د زيانمن په شتون کې د بخښنې غوښتل او په جرمي عمل د پښېمانۍ څرګندول او د هغه درناوی او په راتلونکي کې هغه ته د ځورونې او اذيت نه رسولو ته شامليږي.

**(١١) يوولسم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**

- کومه نيوکه چې پر دويمه فقره کېږي، داده چې له زيانمن سره مرسته او له جرمي عمل څخه د راولاړې شوې خسارې جبران، مدني مسؤوليت دی او د جرم مرتکب له جرم څخه د راولاړې شوې خسارې په جبران مکلف دی. خو په دې ځای کې د حبس د بديل په عنوان ، د جزايي مسؤوليت په توگه پيش بيني شويدی. آيا کولای شو د خسارې جبران ته هم په عين حال کې د مدني مسؤوليت وصف ورکړو او هم د جزايي مسؤوليت وصف؟

- کومه نيوکه چې په دريمه فقره شتون لري، دا ده چې زيانمن او يا بل هر شخص ته درناوی او د ځورونې او اذيت نه رسول قانوناً منع دي او نه ښايي هيڅوک بل شخص وځوروي او اذيت يې کړي، له دې پرته مجازات به شي. آيا کولای شو يو قانوني ممنوعيت د حبس د بديلې جزا په توگه پېشبيني کړو؟
گډونوال دې د نوموړې موضوع په اړه له يو بل سره مباحثه وکړي.

**٦. د محکوم عليه حاضري ورکول:**

د پوليسو په دفتر يا بله رسمي مرجع کې حاضري ورکول د مراقبت د دورې له مواردو څخه شپږم مورد(د حبس د بديلې جزا په حيث) پيشبيني شويدی. محکمه کولای شي د محکوم عليه د اوضاع او احوالو په پام کې لرلو سره، نوموړی د مراقبت په نورو مواردو سربيره د پوليس په دفتر يا دده د اوسيدو ځای ته نږدې يوې رسمي مرجع کې د حاضرۍ په ورکولو مکلف کړي.

**(۱۲) دولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

په حاضرۍ ورکولو د محکوم علیه د محکومیت په اړوند دوه لیدلوري شتون لري:

لومړی: محکمه نه شي کولای محکوم علیه یوازې د پولیس دفتر یا بلې رسمي مرجع ته په حاضري ورکولو، د یو خپلواک مورد په توګه، محکوم کړي. بلکې محکوم علیه لومړی د مراقبت د دورې له مواردو څخه په یوه یا څو مواردو محکومېږي، بیا د محکوم بها مواردو له اجرا څخه د ډاډ په موخه، په حاضرۍ ورکولو محکومېږي.

دویم: محکمه کولای شي د محکوم علیه اوضاع او احوالو ته په کتنه ، نوموړي یوازې (د حاضري ورکولو) په جزا محکوم کړي.

تاسې د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون د (۲) ګڼه ضمیمې د نولسمې مادې په رڼا کې خپل لیدلوری څرګند کړئ؟

**۷. له مضرو اشخاصو سره د معاشرت پرېښوول:**

د مراقبت د دورې له مواردو څخه اووم مورد (د حبس د بدیلې جزا په حیث) هغه دي چې محکمه کولای شي محکوم علیه له هغه اشخاصو سره له معاشرت څخه منع کړي، چې له هغوی سره معاشرت ده په زیان وي. دا جزا یو ډول مراقبتي تدبیرونه ګڼل کېږي او د محکوم علیه د اصلاح او د احتمالي جرم له ارتکاب څخه مخنیوي په موخه تطبیقېږي.

دا مورد (له مضرو اشخاصو سره د معاشرت پرېښودل) د (جزایي اجراآتو قانون د (۲) ګڼې ضمیمې شلمې مادې) صراحت ته په پام، په یوازې توګه په کار نه وړل کېږي، بلکې محکمه محکوم علیه لومړی د مراقبت د دورې له مواردو څخه په یوه یا څو مواردو محکوموي او سربیره پر دې، نوموړی له ځینو مضرو اشخاصو سره له معاشرت څخه هم منع کوي. که چېرې محکوم علیه په دې هکله د محکمې حکم رعایت نه کړي، د جزا کود په ۱۵۹ مه ماده کې درج شوی حکم پرې تطبیقېږي.

**٨. په ټاکلو کارونو د اشتغال منع:**

د مراقبت د دورې له مواردو څخه اتم مورد چې د حبس د بدیل په توګه پیشبیني شویدی، له ټاکلو کارونو څخه کوم چې د جرم د ارتکاب زمینه رامنځ ته کړي، د اشـــتغال منع ده. دا جزا یو ډول موقتي تدبیرونه انګیرل شـــوي او د محکوم علیه د اصـــلاح او د احتمالي جرم لـه ارتکاب څخه د مخنیوي په موخه، تطبیقېږي.

(د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼې ضـمیمې شـلمې مادې) صراحت ته په پام دا مورد (په ټاکلو کارونو د اشتغال منع) په یوازې توګه د محکوم علیه پروړاندې په کار نه وړل کېږي، بلکې محکمه محکوم علیه په نورو مراقبتي تدبیرونو سربیره، لـه ټاکلو کارونو څخه چې د جرم د ارتکاب زمینه رامنځ ته کړي، منع کوي.

**٩. د ښوونې او روزنې په زده کړه الزام:**

د ښوونې او روزنې په زده کړه، د کورني او ټولنیز معاشرت آدابو الزام، د مراقبت د دورې له مواردو څخه نهم مورد د حبس د بدیلې جزا په توګه، محکوم علیه پرې مکلف کېږي. محکمه هغه مهال محکوم علیه د ښوونې او روزنې په زده کړه، د کورني او ټولنیز معاشرت په آدابو ملزموي چې د جرم ارتکاب:

الف : د مرتکب د نه ښوونې او روزنې زیږنده وي.

ب: یا دده د کورني او ټولنیز معاشرت د آدابو کمزورتیاوي.

( د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼې ضـــمیمې یوویشـــتمې مادې) صراحت ته په پام په ښـــوونه او روزنه الزامیت د حبس د یو خپلواک بدیل په توګه، د متهم پر وړاندې په کار نه وړل کېږي، بلکې محکمه محکوم علیه په نورو مراقبتي تدبیرونو سربیره د ښـــوونې او روزنې، د کورني او ټولنیز معاشرت آدابو په زده کړه هم مکلفوي.

د دې مراقبتي تدبیرونو له تطبیق څخه موخه د محکوم علیه د زده کړه ییزې او ښـــوونیزې کچې لوړول او دده د معاشرتي آدابو تمجیدول دي. د محکوم علیه ددې ضعف پیاوړي کول، له داسې ضعفونو څخه د راولاړ شوي جرمونو ارتکاب راکموي.

د ښـــونې او روزنې د زده کړې د تر لاســـه کولو د تطبيق څرنګوالی د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼې ضميمې د يوويشتمې مادې په دويمه او دريمه فقره او اجرائيوي ضمانتونه يې د جزا کود په ۱۵۹ مه ماده کې تنظيم شوي دي.

**(۱۳) ديارلسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**
د ښـــونې او روزنې او د کورني او ټولنيز معاشرت د آدابو د زده کړې لګښـــت د حکومت پر غاړه دی يا پخپله د محکوم عليه پر غاړه؟

**۱۰. د رواني، چلنديز او جسماني اختلالونو درملنه:**

محکوم عليه د رواني، چلنديز او جســـماني اختلالونو درملنه، په جزا کود کې د حبس د بديل په توګه د مراقبت د دورې له مواردو څخه وروستنی مورد پيشبيني شويدی. په هغه صورت کې چې د محکمې په نزد تشـــخيص شي چې د جرم ارتکاب د مرتکب له رواني، چلنديز او جســـماني اختلالونو څخه سرچينه اخيستې ده، محکمه په نورو مراقبتي تدبيرونو سربېره، مرتکب د رواني درملنې يا روغتيايي مراجعو څخه يوې ته معرفي کوي.

له دې مراقبتي تدبيرونو څخه موخه، د محکوم عليه درملنه او د هغه په واســـطه د احتمالي جرمونو له ارتکاب څخه مخنيوی دی. د درملنې ميعاد د طبي پلاوي سره په مشـــورې ټاکل کېږي[1]. د جزا کود د ۱۵۹- مې مادې احکام پر سرغړوونکي محکوم عليه تطبيقېږي.

**(۱۴) څوارلسم فعاليت**

آيا د محکوم عليه د درملنې لګښت د حکومت پر غاړه دی يا پخپله د محکوم عليه پر غاړه؟

[1] - مراجعه وکړئ: د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼې ضميمې (۲۲) مې مادې دوهمې فقرې ته.

**(۱۵) پنځلسم فعالیت**

**انتقادي تفکر: د جزايي اجراآتو د قانون په (۲) ګڼه ضمیمه کې درج شوې د مراقبت دورې اړوند:**

د جزا کود په ۱۵۸ مه ماده کې د مراقبت دوره د حبس د بدیل په توګه پېشبیني شوې او د هغه موارد یې (۱۰) ګڼلي دي. او په ۱۵۹ مه ماده کې یې د محکمې له حکم څخه په سرغړوونکو محکومینو ځینې مؤیدې وضعه کړې دي. (د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمه) کې د مراقبت د دورې د دې لس ګونو مواردو د تطبیق شرایط له څوارلسمې تر دوه ویشتمې مادې پورې توضیح کړي دي، خو په دې توضیحاتو کې لیدل کېږي چې نوموړی ضمیمې واحد میتود په کار نه دی وړی؛ په ځینو مواردو کې یې، د جزا کود په ۱۵۹ مه ماده کې له درج شویو مؤیدو سره متفاوتې مؤیدې، وضعه کړي دي. اوځینې موارد یې د جزا کود په ۱۵۹ مه ماده کې درج شوې مؤیدې ته احاله کړي دي. او دنورو مواردو لپآره یې هیڅ مؤیده نه ده وضعه کړې.

د تعارض په صورت کې، په جزا کود او د جزايي اجراآتو قانون په (۲) ګڼه ضمیمه کې د پېشبیني شوې مؤیدې ترمنځ، کومې یوې ته ترجیح ورکوئ؟ او ولې؟

## دویم مبحث: د عامه خدمتونو ترسره کول:

د عامه خدمتونو ترسره کول د حبس د بدیل جزاګانو له څلورو ډولونو څخه یو ډول دی چې د جزا کود په ۱۵۰ مه ماده کې تصریح شوی دی (د مراقبت دوره، د عامه خدمتونو ترسره کول، له ټولنیزو حقونو څخه محرومیت او په کور کې حبس). په تېر مبحث کې د مراقبت دوره تشریح شوه. په دې مبحث کې د "عامه خدمتونو د ترسره کولو" حکمونه څېړل کېږي.

عامه خدمتونه د نړۍ په ډېری هېوادونو کې د ټولنې او مجرمینو په حال د ګټورو بدیلونو په توګه تطبیقېږي. مونږ په دې مبحث کې عامه خدمتونه د نورو هېوادونو له تجربو او نړیوالو سازمانونو وړاندیزونو څخه په استفادې په دریو ویناوو کې په لاندې توګه تر مطالعې لاندې نیسو: لومړۍ وینا: د

عامه خدمتونو مفهوم، دويمه وينا: د عامه خدمتونو ډولونه، دریيمه وينا: د عامه خدمتونو د استحصال مراجع، څلورمه وينا: د عامه خدمتونو موخې او ښېگڼې، پنځمه وينا: د عام المنفعه خدمتونو شرايط.

## لومړۍ وينا: د عامه خدمتونو مفهوم:

د عامه خدمتونومفهوم په لغت او اصطلاح کې تر مطالعې لاندې نيسو؟

### الف- عامه خدمتونه په لغت کې:

عامه خدمتونه له (عامه او خدمتونه) دوه کلمو څخه يو ترکيبي اصطلاح ده. عامه کلمه هغه څه چې ګټه يې ټولو ته ورسېږي، يو کار يا څيز چې ټول خلک ترې ګټه واخلي[1] په معنی ده او خدمتونهچې د خدمت جمع ده، په لغت کې چا ته کار کول، نوکري چاکري[2].

له دې امله د عامه خدمتونو ترکيب (عام المنفعه خدمتونه، ټولنيز خدمتونه) د هغه کار اوډندې په معنا دي چې تر سره کول يې د ټولنې د ټولو غړيو لپاره د استفادې وړ او ګټور وي.

### ب- عامه خدمتونه په اصطلاح کې:

په حقوقي اصطلاح کې عامه خدمتونو ته عام المنفعه خدمتونه هم وايي. د حبس د بديل په باب کې، عامه يا ټولنيز خدمتونه عبارت دي له هغه حکم څخه چې محکمه مجرم د هغه رضايت ته په کتنه، محبس ته د استولو پر ځای وړيا او د اجورې له تر لاسه کولو پرته د کار په تر سره کولو، د ټاکليو ساعتونو په شمېر، د ټولنې يا يوې خيريه او عام المنفعه موسسې لپاره د ټولې ټولنې په استازيتوب ملزموي[3].

يا په بل عبارت: عام المنفعه خدمتونه عبارت له هغه مجازاتو څخه دي چې د هغو پر بنسټ محکمه محکوم عليه مؤظفوي تر څو د مراقبت د مامور په نظارت او کنټرول سره په يوې ټاکلې زماني موده کې مشخص کاري ساعتونه د اجورې له تر لاسه کولو پرته د ټولنې په ګټه سرته ورسوي.

---

[1] - هماغه ، ص – ۱۴۲۲.

[2] - حسن، عميد، فرهنگ فارسی عميد، دوجلدي، انتشارات امير کبير، تهران، جلد اول، سال ۱۳۹۱ خورشيدی، ص - ۸۴۰

[3] - محمد بصير، حقيار اسحق زوی، وړاندينې ماخذ، ص ١٦

د افغانستان جزا کود د ۱٦۲ مې مادې په لومړۍ فقره کې عامه خدمات داسې تعریف کړي دي: «عامه خدمتونه له هغه کار څخه عبارت دي چې د جرم مرتکب د ټولنې په ګټه د هغو په ترسره کولو ، دمزد په قسمي ترلاسه کولو یا له هغه څخه پرته، محکومېږي.»

خو د جزایي اجراآتو قانون د (۲) ګڼې ضمیمې د دویمې مادې په څلورم بند کې عامه خدمتونه داسې تعریف شوي دي «عامه خدمتونه: هغه فعالیتونه دي چې محکوم هغه د ټولنې په ګټه تر سره کوي».

**(۱٦) شپاړلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آیا محکمه کولای شي محکوم علیه د حبس د بدیلې جزا په توګه د عامه خدمتونو په تر سره کولو، د مزد په قسمي ترلاسه کولو محکوم کړي.

د دې پوښتنې ځواب د عامه خدمتونو د تعریف په رڼا کې وړاندې کېدلای شي. خو دلته دوه تعریفونه شتون لري. له دې تعریفونو څخه یو، راجح او بل یې مرجوح دی.

تاسې د (ناسخ او منسوخ، عموم او خصوص، مطلق او مقید ، مجمل او مفصل) قواعدو په رڼا کې تشخیص کړئ چې له دې دوو تعریفونو څخه کوم یوه ته ارجحیت ورکول کېږي؟ که چېرې د (نسخ) قاعده تطبیق کړئ، د ضمیمې په دویمه ماده کې درج شوي تعریف ته ارجحیت ورکول کېږي، ځرنګه چې نوموړې ضمیمه یو میاشت وروسته له جزا کود څخه نافذ شوې ده او لاحق قانون سابق قانون منسوخوي.

او که چیرې د (مجمل او مفصل) قاعده تطبیق کړئ، د جزا کود ۱٦۲ مې مادې لومړۍ فقره کې درج شوي تعریف ته ارجحیت ورکول کېږي. ځکه د جزا کود عامه خدمتونه په مفصله توګه تعریف کړي دي. خو ..... (۲) ګڼه ضمیمې عامه خدمتونه په مجمله توګه تعریف کړي دي او مفصل پر مطلق ارجحیت لري.

**دويمه وينا: د عامه خدمتونو ډولونه:**

د عامه خدمتونو ډولونه د جزايي اجراآتو د قانون د (۲) ګڼې ضـــميمې په درويشـــتمه ماده کې په پنځو مواردو کې حصر شوي دي چې عبارت دي له:

۱. د ښوونې چارې؛
۲. روغتيايي چارې؛
۳. فني او حرفوي چارې؛
٤. خدماتي چارې؛ او
۵. کرنيزې چارې.

**(۱۷) اوولسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آيا محکمه کولای شي محکوم عليه د حبس د بديلې جزا په توګه د عامه خدمتونو په سرته رســـولو له پنځګونو مواردو پرته په بل مورد مکلف کړي؟

احتمالي ځواب:

په پورته ذکر شـــويو مواردو د عامه خدمتونو د ډولونو حصرـ په دې معنا دی چې محکمه نه شي کولای محکوم عليه له يادو مواردو پرته مکلف کړي.

د پنځه ګونو مواردو جزئيات د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضميمې په درويشتمه ماده کې ولولئ.

**درېيمه وينا: د عامه خدمتونو د استحصال مراجع:**

د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (۲) گڼې ضميمې څلرويشتمې مادې د عامه خدمتونو د استحصال مراجع داسې تصريح کړې دي:

۱. په مرکز او ولايتونو کې وزارتونه او دولتي ادارې.
۲. دولتي تعليمي او تحصيلي مؤسسې.
۳. کميسيونونه.
٤. ښاروالۍ.
٥. خيريه او مرستندويه مؤسسې.
٦. پالنځايونه.
۷. دولتي او غير دولتي صنعتي کارځايونه او کارخونې.
۸. کانونه.
۹. د افغاني سرې مياشتې ټولنه
۱۰. د ترافيکو ادارې.
۱۱. د محکمې په تشخيص نورې مراجع.

**(۱۸) اتلسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آيا محکمه کولای شي محکوم عليه د جزايي اجراآتو د قانون (۲) گڼې ضـــميمې په ۲۴ مه ماده کې له تصريح شويو مراجعو پرته بلې مرجع ته د عامه خدمتونو سرته رسولو په موخه معرفي کړي؟

احتمالي ځواب:

د جزايي اجراآتو د قانون د (۲) گڼې ضــميمې (۲۴) مې مادې د عامه خدمتونو د اســتحصــال مراجع په لسو تصريح شويو مراجعو پورې حصر کړي نه دي، بلکې محکمې ته يې صلاحيت ورکړی چې کولای

شي محکوم علیه د عامه خدمتونو د سرته رسولو لپاره – په خپل تشخیص – له لسګونو مراجعو پرته بلې مرجع ته معرفي کړي.
خو هغه مرجع چې محکمه یې تشخیصوي، نه بنایي د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمې په ۲۵ مه ماده کې له ذکر شویو مراجعو څخه وي. نوموړې ماده داسې صراحت لري: "محکمه نه شي کولای چې په لاندې مراجعو کې شخص د عامه خدمتونو په ترسره کولو محکوم کړي:
۱- عدلي او قضایي مراجع
۲- امنیتي، کشفي او استخباراتي مراجع.
۳- پټې او د محرمو اطلاعاتو او سندونو لرونکې ځانګې".

د عامه خدمتونو د استحصال د مرجع ټاکلو په اړه لاندې نیوکه مطرح کېږي:

**(۱۹) نولسم فعالیت**

**انتقادي تفکر:**
د "عامه خدمتونو" له عبارت څخه پوهېدل کېږي چې د عامه خدمتونو د استحصال مرجع باید دولتي اداري وي، نه غیر دولتي یا خصوصي اداري، ځکه چې یوازې دولتي اداري دي چې عامه خدمتونه وړاندې کوي او غیر دولتي اداري یوازې د خپلو شخصو ګټو لپاره کار کوي. خو د جزایي اجراآتو د قانون د ۲۴مې مادې په اووم بند کې راغلي دي: "دولتي او غیر دولتي صنعتي کارګاوې او کارخونې"، نو څرنګه امکان لري چې غیر دولتي صنعتي کارخونو ته د عامه خدمتونو وړاندې کول اطلاق شي؟ ځکه چې دوی یوازې د خپلو شخصي ګټو لپاره کار کوي.

## څلورمه وینا : ښېګڼې او موخې:

عام المنفعه خدمتونه هغه حکم دی چې د مجرم او د هغه د ارتکابي فعل د خطرناکوالي د لندازې په پام کې لرلو او یا د مجني علیه د خسارې د جبران په موخه او پخپله د هغه په واسطه د ټولنې د ګډوډ شوي نظم د بیرته راستنولوپه موخه په وړیا یا د قسمي اجورې په مقابل کې د ټولنې لپاره د خدمت د ترسره کولو له لارې، پرته له دې چې محبس ته ولاړ شي، عملي کېږي. یعنې د عام المنفعه خدمتونو د جزا

سربیره پردې چې د مجرم په وده او د عزت النفس په خوندتیابه او لوړتیا کې ګټوره ده، د مجرمینو په نزد د مسؤولیت منلو د تحریک او احساس د پیاوړي کولو له لارو او د ګډوډ شوي نظم د بیرته راستنولو لپاره اغېزناکه وسیله او پخپله د دوی په واسطه د خسارې جبران ګڼل کېږي. عام المنفعه خدمتونه مجرم ته دا فرصت ورکوي ترڅو هغه ټولنې ته چې متضرره (زیانمنه) کړې یې ده، خپل ځان د یو ګټور شخص په توګه په اثبات ورسوي، یعنې عام المنفعه خدمتونه د حبس د بدیل په توګه محکوم علیه ته د اصلاح او بیا روزنې زمینه رامنځته کوي.

محکوم علیه شخص چې له ټولنیزو خدمتونو څخه استفاده کوي، باید کار په منظمه، هدفمنده او له مسؤولیت سره په سمه توګه سرته ورسوي او له بلې خوا هغه کار چې سرته یې رسوي، د خسارې د جبران او ټولنیز ترمیم متضمن وي او د ټولنې او مجرم یووالی (اتحاد) څرګند کړي.

## پنځمه وینا: د عام المنفعه خدمتونو شرایط:

سره له دې چې عام المنفعه خدمتونه د حبس د بدیل په عنوان د مجرمینو لپاره یو ګټور اقدام او تدبیر ثابت او تجربه شوی دی، خو تطبیق یې له قید او شرط پرته ندی، د سن (عمر) اهلیت، شخصیت، تحصیلي او شغلي کچې په پام کې لرلو او دهغه د تطبیق د مؤثریت په پام کې نیولو سره د مجرمینو په رضایت او کله ددوی په وړاندیز به د تطبیق وړ شي. له بلې خوا په هغه صورت کې چې محکوم علیه د عام المنفعه خدمتونو د اعطا شرایط ولري او د هغه له امتیاز څخه برخمن شي، د عام المنفعه خدمتونو د تطبیق پر مهال هغه شرایط چې له وړاندې څخه ټاکل شوي دي باید رعایت کړي[١]. په هغه صورت کې چې محکوم علیه د محکمې په حکم کې ذکر شوي شرایط رعایت نه کړي، د حبس د بدیل حکم د تغییر او حتی لغوه کیدو سبب کېږي او محکوم علیه شخص به محبس ته واستول شي.

د جزا کود ١٦٦ مه ماده دا رنګه صراحت لري : «که چیرې محکوم علیه له مؤجه عذر پرته، د عامه خدمتونو له تر سره کولو یا د کار د تر سره کولو لپاره له ټاکلو شرایطو څخه سرغړونه وکړي، لومړی ځل زیات نه زیات تر (٨٠) ساعتونو پورې د هغه د عامه خدمتونو د ترسره کولو په ساعتونو کې زیاتېږي. د تکرار په صورت کې محکمه کولای شي د اړوند څارنوال د وړلندیز پر بنسټ د هغه د عامه خدمتونو

[١] - هماغه، ص ٢٧

پاتې موده په حبس بدله کړي. په دې صورت کې محکوم علیه له پاتې ساعتونو څخه د هرو ۸ ساعتونو په وړاندې یوه شپه او ورځ زنداني کېږي.»

**(۲۰) شلم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنې:**

د جزا کود ۱۶٦ مه ماده په ځیر سره ولولئ و بیا لاندې جملې ولولئ او صحیح جملې له غلطو څخه بیلې (تفکیک) کړئ:

1 -هغه شخص چې د لومړي ځل لپاره یې د محکمې په حکم کې له درج شویو شرایطو څخه سرغړونه کړې ده، محکمه باید د هغه د عامه خدمتونو موده اکثر حد تر (۸۰) ساعتونو پورې زیاته کړي.

2 -هغه شخص چې لومړي ځل لپاره یې د محکمې په حکم کې له درج شویو شرایطو څخه سرغړونه کړې ده، محکمه کولای شي د څارنوال له وړاندیز پرته د هغه د عامه خدمتونو موده اکثر حد تر (۸۰) ساعتونو پورې زیاته کړي.

3 -هغه شخص چې د دویم ځل لپاره یې د محکمې په حکم کې له درج شویو شرایطو څخه سرغړونه کړې ده، محکمه کولای شي د څارنوال له وړاندیز پرته د هغه د عامه خدمتونو موده په حبس تبدیله کړي.

4 -هغه شخص چې د دویم ځل لپاره یې د محکمې په حکم کې له درج شویو شرایطو څخه سرغړونه کړې ده، په هغه صورت کې چې څارنوال په حبس د هغه د عامه خدمتونو د پاتې مودې تبدیلي وړاندیز کړي، محکمه باید د څارنوال وړاندیز ومني.

په هر صورت د عام المنفعه خدمتونو د اغېزناک تطبیق لپاره یو لړ شرایط اېښودل شوي دي چې ځینې یې له ارتکابي مجرمانه عمل پورې اړوند او ځینې یې په محکوم علیه پورې اړوند، ځینې یې د خدمتونو د استحصال کوونکي مرجع او د هغه د اجرا د کمیت او کیفیت د څرنګوالي پورې اړوند دي، باید رعایت شي.

په هغه صورت کې چې د جرم پورې اړوند شرایط شتون ولري، محکمه د عام المنفعه خدمتونو د تحمیل او تعمیل ټول شرایط او همداسې د هغه د شرایطو د نه رعایتولو پایلې (عواقب) محکوم علیه ته وریوهوي او په هغه صورت کې چې رضایت ولري، خپل حکم د حبس په بدل کې پرعام المنفعه خدمتونو صادروي. نوموړی شرایط په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو.

**الف- په جرم پورې اړوند شرایط:**

په ډېری هېوادونو کې عام المنفعه خدمتونه د خفیفو جرمونو لپاره د رعایت او تطبیق وړ ګڼل کېږي او په درندو او خطرناکو جرمونو کې د پلې کېدو وړ نه بلل کېږي. له دې ټولو سره سره په هېوادونو کې واحد جنایي سیاست شتون نه لري او هر هېواد له ځانګړې سیاست څخه پیروي کوي.
د جرم پورې اړوند شرایط د افغانستان په جزایي نظام کې داسې پېشبیني شوي دي چې د عامه خدمتونو په اجرا کولو د محکوم علیه محکومول – په مجموع کې د حبس په بدیل - په هغه جرمونو کې ممکن دی چې د هغوی د قانوني ټاکلې جزا اکثر حد تر پنځو کلونو پورې حبس وي. د جزا کود د ١٥١ – مې مادې لومړۍ فقره په دې هکله داسې صراحت لري: "محکمه کولای شي د هغه جرم مرتکب چې د هغه د قانوني ټاکلې جزا اکثر حد تر پنځو کلونو پورې حبس وي، د دې قانون له حکمونو سره سم د حبس په بدیله جزا محکوم کړي."
د جزا کود د ١٥١ مې مادې لومړۍ فقره کې په درج شــوي مورد سربېره یو بل مورد د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضــمیمې په اتمه ماده کې د حبس په بدیل د حبس د محکومیت بدلون تر عنوان لاندې پیشبیني شوی دی. نوموړې مادې ته مراجعه وکړئ.

**ب- د جرم د مرتکب پورې اړوند شرایط:**

په مجرم پورې اړوند شرایط هم په هېوادونو کې یو له بل سره توپیر لري. خو د افغانســتان په جزایي نظام کې هغه مرتکبین چې د عامه خدمتونو په تر سره کولو نه مکلف کېږي، اســتثنا شــوي دي. له دې امله، د جرم نور مرتکبین، چې د هغوی په برخه کې نور شرایط، بشــپړ وي، د عامه خدمتونو په تر سره کولو ( د حبس د بدیلې جزا په حیث) مکلف کیدلای نه شي.

د جزايي اجراآتو د قانون (۲) گڼه ضميمې د نهه ويشتمې مادې د لومړۍ فقره په دې هکله داسې تصريح کوي: لاندې اشخاص د عامه خدمتونو په تر سره کولو نه مکلف کېږي:

۱. هغه شخص چې په ساري ياصعب العلاجه ناروغيو اخته کېږي:
۲. هغه شخص چې د داسې فيزيکي يا رواني معلوليتونو لرونکی وي چې د عامه خدمتونو د اجرأ کولو خنډ شي.
۳. هغه ښځينه محکومين چې عمر يې له ۵۵ کلونو څخه زيات او هغه نارينه محکومين چې عمر يې له (٦۵) کلونو څخه زيات وي.
٤. هغه ښځې چې اميدواره يا شيدې ورکوونکې وي.
۵. هغه ماشوم چې عمر يې له ۱۵ کلونو څخه ښکته وي.

**(۲۱) يوويشتم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**

د جزا کود د ۱۰۹ مې مادې د شپږم بند صراحت ته په پام هر طفل - د عمر له قيد پرته - که د جنحې د جرم مرتکب شي، د عامه خدمتونو په تر سره کولو نه مکلف کېږي، خو د جزايي اجراآتو د قانون (۲) گڼه ضميمې د نهه ويشتمې مادې د لومړۍ فقرې پنځم بند ته په پام تر پنځلسو کلونو عمر لاندې د عامه خدمتونو په ترسره کولو نه مکلف کېږي. تاسې د (نسخ عموم او خصوص، مطلق او مقيد، مجمل او مفصل) قواعدو په پام کې لرلو سره تشخيص کړئ چې د عامه خدمتونو په تر سره کولو د طفل د محکوميت په هکله کوم قانون ارجحيت (غوره والی) لري.

## درېيم مبحث: له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت:

له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت د حبس د بديلو جزاګانو د تر سره کولو درېيم ډول دی چې د جزا په کود په ۱۴٦ مه ماده کې تصريح شوی دی، د مخه تر دې چې د موضوع په شرح او تفصيل لاس پورې کړو، **يوه پوښتنه مطرح کوو:**

**(۲۲) دوه ويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

۱- ستاسې په نظر له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت د حبس د بديل په توګه په کومو جرمونو کې ټاکل کيدای شي؟

۲- ستاسې په نظر، آيا محکمه کولای شي له هغو حقونو ځينې د جزا کود کې درج شويو له ټولنيزو حقوقو څخه د محروميت تر عنوان لاندې د حبس د بديل په توګه د جرم پر مرتکب حکم وکړي؟

خپل ځوابونه په قانون مستند وړاندې کړئ.

له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت د تبعي جزا، تکميلي جزا او حتی تاميني تدبيرونو تر عنوان لاندې د مقنن تر بحث لاندې نيول شوی دی.

په تبعي جزا کې، په هغه صورت کې چې د جرم مرتکب له لسو کلونو څخه زيات په تنفيذي حبس محکوم شي، له يو لړ ټولنيزو حقوقو څخه هم محرومېږي. البته لکه څرنګه چې د تبعي جزا له تعريف څخه برېښي، محکوم عليه هغه مهال په دی جزا محکوميدای شي چې په اصلي جزا محکوم شوی وي.

په تکميلي جزا کې هم محکمه پر حبس بناء د اصلي جزا تر څنګ محکوم عليه له يو لړ حقوقو څخه چې په حکم کې يې تصريح کوي، محروموي. يعنې، په دې ډول کې محکمه مستقيماً له ټولنيزو حقوقو څخه په محروميت حکم نه کوي، بلکې پر حبس بنا د اصلي جزا تر څنګ، محکوم عليه د حکم په نص کې په قانون کې له درج شويو حقوقو څخه هم محروموي.

په تأميني تدبيرونو کې د حقونو څخه د محروميت هدف جزاګانې نه دي، بلکه د خطر محدودول دي. په داسې حال کې چې د حبس بديل د جزا په شکل په محکوم عليه باندې عملي کېږي.

په هر صورت، محکمه په هغه جرمونو کې چې جزا يې تر يو کال تنفيذي حبس پورې وي، د جزا کود په ۱٦٧ مه ماده کې درج شويو ټولنيزو حقوقو په يو يا څو په محروميت حکم کولای شي.

د جزا کود ۱٦٧ – مه ماده :«محکمه کولای شي په دې فصل کې د درج شويو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې د قصير حبس د جزا مستوجب وي، د ټاکلې مودې لپاره د حبس د بديلې جزا په توګه په لاندې توګه د ټولنيز حق له يوه يا له يوه څخه له زياتو محروم کړي:

١. د يوې رتبې يا درجې راټيټول.
٢. د يوه کال لپاره د معاش د يوه پر درييمه کسر.
٣. ارتکابي جرم ته په کتو سره له دولتي مشاغلو او غير دولتي عمومي مؤسسو او بنسټونو کې له شپږو مياشتو څخه تر دوو کلونو پورې د خدمت مؤقت انفصال.
٤. په شغل يا کسب يا ټاکلې حرفه له بوختيدو څخه تر يوه کاله پورې منع په هغه صورت کې چې جرم د هغه په شغل پورې اړوند وي.
٥. له يوه څخه تر دريو کلونو پورې د ټاکلي شغل د فعاليت د جواز له ترلاسه کولو محروميت،
٦. د سوداګريزو شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مؤسس هئيت او مديره هئيت کې له غړيتوب څخه محروميت او يا له عامل مديريت څخه تر يوه کاله پورې محروميت.
٧. له دولتي ادارو يا غير دولتي مؤسسو سره له معاملې يا په مزايده او مناقصه کې له ګډون څخه له يوه څخه تر پنځو کلونو پورې محروميت.
٨. له چلونې څخه محروميت له شپږو مياشتو څخه تر دريو کلونو پورې.
٩. د ټاکلو حسابونو بندول ( مسدودول) يا د جاري حساب له پرانيستلو څخه محروميت يا د بانکونو او نورو مالي مؤسسو د آسانتياوو او اعتباراتو له ترلاسه کولو څخه له يوه څخه تر دريو کلونو پورې محروميت.
١٠. د وسلې لرونکو مجازو افرادو د وسلې له ګرځولو څخه تر دوه کلونو پورې محروميت.
١١. له هيواده د بهرنيو اتباعو ايستل(اخراج) او له يوه څخه تر پنځو کلونو پورې افغانستان ته د هغوی د بيا دننه کيدو منع.
١٢. له شپږو مياشتو څخه تر يوه کاله پورې له هېواده د افغاني اتباعو وتلو منع».

دا ډول د حبس بديل، يوازې  هغه وخت ملغی کيدای شي او په حبس تبديليږي چې محکوم عليه د هغه د پلي کېدو پر مهال د بل جرم مرتکب شي، يعنې په هغه صورت کې چې  محکوم عليه د محکوميت په دوران کې د بل جرم مرتکب شي، په دې صورت له  ټولنيزو حقوقو څخه پر محروميت د حبس بديل لغوه او پاتې موده په حبس تبديلېږي.

**(٢٣) درويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود ١٦٧ مه ماده په ځير سره ولولئ او وواياست چې آيا د جرم د مرتکب لپاره، په زندان کې د قصير حبس شديد دی يا (د حبس د بديلې جزا په توګه) په نوموړې ماده کې درج له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت.

د مثال په توګه:

- د جزا کود د ١٦٧ مې مادې په پنځم بند کې: آيا د محکوم عليه لپاره د قصير حبس تېرول سخت (ګران) تماميږي يا دا چې د درې کلونو مودې لپاره د ټاکلي شغل جواز له تر لاسه کولو  محروم شي. په تېره بيا که هغه شغل د هغه يوازينی حرفه وي.

- د نوموړې مادې په اووم بند کې: آيا د محکوم عليه لپاره د قصير حبس تېرول سخت (ګران ) تماميږي يا دا چې د پنځو کلونو مودې لپاره په مزايده او مناقصه کې له دولتي ادارو سره له معاملې محروم شي. په تېره بيا که نوموړی يو قراردادي وي او د ژوندانه يوازينی کاروبار يې همدا وي؟

- د نوموړې مادې نور بندونه هم سره پرتله کړئ او نظر ورکړئ ....

په پای کې وواياست چې آيا محکمه د متهم د محکوميت پر مهال (د حبس د بديلې جزا په توګه) له ټولنيزو حقوقو څخه په محروميت د هغه موافقه تر لاسه کوي يا نه؟

**(۲۴) ځلرويشتم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**

د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضــميمې له ټولنيزو حقوقو څخه د محروميت په اړه هيڅ حکم نه دی کړی.

آيا تاسې يې په دې علت پوهېږئ؟

## څلورم مبحث: په کور کې حبس:

په کور کې حبس د حبس د بديلونو څخه څلورم ډول دی چې د توکيو پر نړيوالو قواعدو سربيره په ډيرې هېوادونو کې يې د حبس د بديل په توګه په خپلو جزايي قوانينو کې ورته ځای ورکړی دی. له نېکه مرغه، د جزا کود په انفاذ سره، د لومړي ځل لپاره په کور کې حبس د حبس د بديل په توګه د افغانستان جزا حقوقو ته ننووت.

د حبس د بديلونوله دې ډول څخه د لږ خطره مجرمينو لپاره چې ارتکابي جرمونه يې خفيف او يا غير عمدي دي استفاده کېږي، او محبس ته ددوی د استولو په عوض، خپله جزا د کورنۍ په چاپيريال او د مجرم او کورنۍ پورې اړيکمنو خاصو شرايطو لاندې تيروي. په دې ترتيب دده د کور او کورنۍ د چاپيريال له ظرفيتونو څخه د مجرم د بياځلي اصلاح لپاره استفاده صورت مومي. د افغانستان په جزا کود کې ، هغه جرمونه چې جزا يې تر پنځو کلونو حبس پورې وي، محکمه کولای شي، د هغو مرتکب په کور کې د حبس په جزا محکوم کړي[1].

| |
|---|
| **(٢٥) پنځه ويشتم فعاليت** |
| **مباحثوي پوښتنه:**<br>ستاسې په نظر، په کور کې حبس په کومو جرمونو او د جرم پر مرتکب په څه اندازه حکم کيدلای شي؟<br>د استوګنې د ځای د بدلون په صورت کې، په کور کې په حبس محکوم عليه د کومو پړاوونو په رعايت مکلف دی، واضح يې کړئ؟<br>خپل ځوابونه په قانون مستند وړاندې کړئ. |

## لومړۍ وينا: دحبس د بديل مفهوم او شرايط يې:

په کور کې حبس د شخص په کور کې دده د آزادۍ له محدودولو يا سلبولو څخه عبارت دی.

[1] - د ١٦٨ مې مادې لومړۍ فقره: (١) محکمه کولای شي په دې فصل کې د درج شويو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې تر پنځو کلونو پورې د حبس د جزا مستوجب وي، په کور کې د حبس په تيرولو حکم وکړي.)

په کور کې حبس د حبس د نورو بديلونو په څير د خفيفو جرايمو او ابتدايي ناسـتوغو (خشـن) مجرمينو لپاره اعطا کيداى شي. خو که چيرې په کور کې حبس له الکترونيکي نظارت (برښـنايي څارنې) سره مل وي په مجرمينو پورې اړيکمن معيارونه او شرطونه نسـبتاً توپير لري. په هر صـورت د جزا کود ۱۶۸ مې مادې د صراحت له مخې په کور کې حبس په هغه جرمونو کې چې جزا يې تر پنځو کلونو پورې حبس وي، له شپږو مياشتو تر دوه کلونو پورې په کور کې حبس ټاکل کيداى شي.

د جزا کود د ۱۶۸ مې مادې لومړۍ او دريمې فقرې په دې هکله داسې صراحت لري:
« (۱) محکمه کولاى شي په دې فصل کې د درج شـويو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې تر پنځو کلونو پورې د حبس د جزا مستوجب وي، په کور کې د حبس په تيرولو حکم وکړي ».
«(۳) په کور کې د حبس موده له شپږو مياشتو څخه تر دوو کلونو پورې ده».
همدا رنگه په کور کې حبس کيداى شي د الکترونيکي نظارت او يا ټولنيزو مرسـتندويانو له لارې کنټرول شي. يعنې له دې دوو طريقو څخه يوه وکاروي. د ۱۶۸مې مادې د ۴ فقرې په اړه د جزا کود داسې حکم کوي:
"(۴) په کور کې د محکوم عليه حضـور، د هغې الکترونيکي وسـيلې له لارې چې د حبس د بديل د جزاگانو پر تطبيق د نظارت په مرکز کې شتون لري يا د ټولنيز مرستندوى په واسطه، کنټرولېږي."
په هغه صـورت کې چې کنټرول او نظارت د الکترونيکي وسيلې له لارې وي، محکمه په خپل حکم کې ترې يادونه کوي. په دې اړه د جزايي اجراآتو د قانون (۲) گڼه ضـميمې ۳۲ مې مادې دريم بند داسـې صراحت لري :«محکمه په کور کې په حبس د حکم د صـادرولو په وخت کې لاندې مطالب په خپل حکم کې تصرـيح کړي:... ۳ - هغه وسـيله چې وکولاى شي په کور کې د محکوم عليه شـتون تثبيت کړي.»
الکترونيکي نظارت د شخص د محدوديت لپاره په يوه مشخصه ساحه کې په خپلواکه توگه او يا په کور کې له حبس سره تطبيقېږي. چې شرايط يې کيداى شي په ټاکلي ځاى او وختونو کې د شـخص شـتون وي او يا دا چې له يوې ټاکلې سـاحې څخه؛ نه ليرې توب وي. له همدې کبله ليدل کېږي چې الکترونيکي څارنه په دوه ډوله، مثبت (محکوم په ټاکلي سـاحه کې تگ راتگ وکړي) او يا منفي (د

محکوم په ټاکلي ســاحه کې تګ راتګ ونه کړي) د بحث وړ دي، چې د دوه ډوله نظارت يعنې فعال او منفعل په واسطه عملي کېږي.

په هر صــورت، محکمه په خپل حکم کې په کور کې د حبس په تنفيذ کې د رعايت وړ شرايط تصرــيح کوي:

په دې اړوند د جزايي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضــميمې ۳۲ مه ماده دا رنګه صراحت لري: « محکمه په کور کې په حبس د حکم د صادرولو په وخت کې لاندې مطالب په خپل حکم کې تصريح کوي:

۱. د هغه کور موقعيت او پته چې محکوم عليه په هغه کې، د محکوميت دوره تېروي.
۲. هغه احوال او شرايط چې محکوم عليه له کور څخه د وتلو حق ولري.
۳. هغه وسيله چې وکولای شي په کور کې د محکوم عليه شتون تثبيت کړي.
٤. څارونکې مرجع، د څارنې ډول او د رپوټ ورکولو څرنګوالی.
۵. د هغه معذرتونو توجيه يا توضيح چې د محکوم عليه له لورې د استوګنې د ځای د بدلون سبب کېږي» .

په پورتنۍ ماده کې له نغښتې معنا څخه دا رنګه برېښي چې هغه اشخاص چې ثابت استوګنځای نه لري، د جرم د ارتکاب په صورت کې محکمه نه شي کولای، په کور کې د حبس جزا پرې حکم وکړي.

**(۲٦) شپږويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

له کور څخه مراد څه شی دی؟ او آيا هغه کسان چې په کرايي کورونو کې ژوند کوي، په کور کې په حبس محکومېدلای شي يا نه؟

آيا په کور کې د حبس حکم د هغو کسانو په برخه کې چې په خيمه کې ژوند کوي، د تطبيق وړ دی يا نه؟

سره له دې چې د اســتوګنې د ځای د بدلون لپاره موجه معاذير په حکم کې له وړاندې څخه تصرــيح کېږي، خو په هغه صورت کې چې محکوم عليه د موجه عذر په شتون سره وغواړي خپل د اوسيدو ځای ته تغيير ورکړي، د څارونکې مرجع ليکلې موافقه تر لاسه کوي. له دې پرته څارونکې مرجع مکلفه ده، د

موضـــوع اړونده ښارنوالۍ ته رپوټ ورکړي. که چیرې ښارنوالۍ ته ثابته شي چې محکوم علیه په حکم کې درج شـــوي شرطونه ندي رعایت کړي موضـــوع د تصـــمیم نیولو لپاره محکمې ته وړاندې کوي او محکمه پرته له دې چې کوم بل مهلت ورکړي، په کور کې د حبس حکم په تنفیذي حبس تبدیلوي.
د جزا کود د ١٦٨ مې مادې پنځمه فقره: « که چیرې محکوم علیه په کور کې د حبس شرایط چې د مخه د محکمې په حکم کې تصریح شویدي، رعایت نه کړي، د بدیل حبس د جزا پاتې موده په تنفیذي حبس بدلیږي.»

## دویمه وینا: په کور کې د حبس ښېګڼې او عیبونه:

په دې وینا کې د حبس ښېګڼې (لومړۍ فرعه) او د حبس عیبونه (دویمه فرعه) په تفصیل سره بیانوو.

### لومړۍ فرعه: په کور کې د حبس ښېګڼې:

١. : په کور کې د حبس په مجازاتو کې ، څرنګه چې مجرم په ټولنه کې ژوند کوي دده ټولنیزې اړیکې له کورنۍ، دوســتانو او حتی د کار او کســب له ځای سره له منځه نه ځي. سربیره پر دې چې د بیا ټولنیز کیدو زمینه به پر خپل ځای پاتې شي، مخنیوونکې جنبه هم لري. همدا رنګه په دې پروګرام کې د هغه اشـخاصـو پروګرام چې شـغل لري او یا د شـغل د پیدا کولو په لټه کې وي د هغوی لپاره فرصت تیار دی چې خپلې دندې سرته ورسوي، په همدې موخه خپل او د خپلې کورنۍ اقتصادي مسؤولیتونه به هم په غاړه ولري.
٢. په هغه صـــورت کې چې په کور کې حبس له الکترونیکي نظارت پرته وي یو امتیاز انګیرل کېږي، خو که له الکترونیکي نظارت سره یو ځای وي په دې صـــورت کې د نظارتي وســـایو او تجهیزاتو پیرودل او په کار اچول او ساتل قیمته تمامېږي (ډیر لګښت غواړي).
٣. په کور کې حبس له ټولنیزې لیدلورې په زندان کې د حبس په څېر جدي بدناموونکې اغېزې نه لري چې دا پـه خپلـه د مجرمینو لپـاره یو امتیـاز دی. د بېلګې پـه ډول: پـه کور کې حبس مجرم د جنسيـ تیرۍ له خطر، په ســـاري ناروغیو له اخته کېدو او له خطرناکو مجرمینو سره بلدتیا څخه ژغوري.

٤. كور د مجرمينو يوې خاصې ډلې ته يو مناسب ځای دی، لكه روحي او جسمي ناروغان، معلول اشخاص او اميدواره ښځې او داسې نور.

٥. په كور كې حبس په محبسونو كې د جمعيت له تراكم څخه مخنيوی كوي چې پخپله د دولت په لګښتونو كې د سپما لامل كېږي.

٦. په كور كې حبس د محكوم عليه لپاره د كار زمينه برابروي. او دده او كورنۍ اقتصاد ته صدمې رسولو څخه مخنيوی كوي.

**دويمه فرعه: په كور كې د حبس عيبونه:**

١. هغه اشخاص چې ثابت استوګنځی نه لري، د دوی په اړوند په كور كې د حبس تطبيق يا ناشونی دی او يا دا چې ډېر لګښت غواړي.

٢. پر مجرمينو په كور كې د حبس تنبيهي جنبه كمزورې (ضعيفه) ده.

٣. په هغه صورت كې چې په كور كې حبس له الكترونيكي نظارت سره مل وي، شونې ده هر مجرم د نظارتي تجهيزاتو او وسايلو د پيرودلو توانايي ونه لري.

په هر صورت، په تر سره شويو څېړنو كې ليدل كېږي چې په كور كې حبس ښيګڼې نسبت د هغه له عيبونو څخه زياتې دي. په ځانګړي توګه په نشه توكيو د روږدو (معتادو) مجرمينو په مورد كې، ارزونې ښايي چې له الكترونيكي نظارت سره مل په كور كې د حبس د دورې په پای كې د اعتياد د ترك كولو (پريښودلو) سلنه په سلو كې له ٣٢ څخه په سلو كې ٩٥ ته لوړه شوې ده[١].

١ - هماغه ماخذ له ١٢٣ مخ څخه تر ١٢٥ مخ پورې.

**(۲۷) اووه ویشتم فعالیت**

**(۱) فرضيي قضيه:**

(الف) شخص د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ په میاشت کې د سرقت په جرم د محکمې له خوا په ۹ کاله تنفیذي حبس محکوم شـــوی دی. له څلور نیم کلونو څخه زیاته موده خپل محکوم بها حبس یې په محبس کې تېر کړی دی او په پرله پســې توګه یې د خپل حال اصــلاح ثابته کړې ده. د افغانســتان د جزا کود په انفاذ سره، د حبس په بدیل د خپل پاتې حبس د تعویض غوښــتنه کوي. د محبس آمر یې مني؛ او مدافع وکیل داسې استدلال کوي: زما موکل د خپل حال اصلاح ثابته کړې ده او نه ښایي خپله پاتې موده په محبس کې تېره کړي، نو له دې امله هیله کوم تر څو د هغه پاتې موده د حبس په بدیل تعویض شي.

د څارنوال استدلال:
۱- د حبس بدیل د محاکمې پر مهال تاکل کیدای شي، په داسې حال کې چې (الف) شـخص د مخه د سرقت په جرم محکوم شوی دی، په دې صورت کې د حبس د بدیل مستحق کېدای نه شي.
۲- په هغه جرمونو کې چې اصل مجازات یې له پنځو کلونو څخه زیات وي، د حبس د بدیلې جزا تاکل جواز نه لري، په داسې حال کې چې (الف) شخص په ۹ کاله حبس محکوم شوی دی. نو د مدافع وکیل غوښتنه د قانون مخالفه ده. څارنوال د خپل اعتراض یوه کاپي په دوسیه کې او دویمه یې مدافع وکیل ته ورکوي او دوسیه محکمې ته استوي.
محترمو ګډونوالو! تاســې د مدافع وکیل تقاضــا او د څارنوال اعتراض د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې تحلیل کړئ او خپل نظر وړاندې کړئ.

**(۲۸) اته ویشتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

درې کسان هر یو (الف ٦٦ کلن د جرم د فاعل په توګه، ب ۴۵ کلن د جرم د شریک په توګه، ج ۲۵ کلن د جرم د معاون په توګه) په یو مجرمانه عمل کې چې مجازات یې په قانون کې متوسط حبس ټاکل شوی دی، تر محاکمې لاندې دي. محکمه د حبس د بدیل ټاکلو د خنډونو د نه شتون په علت او د مرتکبینو د شخصیت او اهلیت په پام کې لرلو سره هغوی په لاندې توګه د حبس په بدیله جزا محکوموي:

- د ٦٦ کلن (الف) شخص محکومیت: څرنګه چې نوموړی په بڼوالۍ (باغدارۍ) کې مهارت لري، له عمومي بڼونو څخه په یوه کې د ورځې په ۴ ساعته کار د ۳۰ سلنه اجورې په مقابل کې محکوم دی، که څه هم رضایت نه لري.

- د ۴۵ کلن (ب) شخص محکومیت: څرنګه چې ټکسي چلوونکی دی او (الف) شخص یې په خپل موټر کې د جرم د ارتکاب ځای ته لیږدولی دی او له ده سره د جرم په ارتکاب کې شریک شوی ؤ. محکمې نوموړی په لاندې ډول محکوم کړ : ۱- د جزا کود د ۱۵۸ مې مادې د لسم بند مطابق د مراقبت د دورې په توګه د رواني او رفتاري اختلالاتو درملنې ته اقدام وکړي.۲ – د جزا کود د ۱٦۷ مې مادې د اتم بند مطابق تر هغه مهاله چې صحت مومي له - ټولنیزو حقوقو څخه د محرومیت په توګه دې – شپږ میاشتې له ټکسي چلونې څخه محروم شي.

- د ۲۵ کلن (ج) شخص محکومیت: څرنګه چې خپله د قانوني جواز درلودونکې وسله یې (الف) شخص ته ورکړې، د جزا کود د ۱٦۷ مې مادې د لسم بند مطابق تر یوه کاله پورې د وسلې له حمل کولو (ګرځولو) او د نوموړې مادې د اتم بند مطابق تر شپږو میاشتو پورې له چلونې (راننديګۍ) څخه محروم دی.

محترمو ګډونوالو! تاسې د محکمې حکم تحلیل کړئ او په قانون مستند د هغه صحت (صحیح والی) یا سقم یا نا صحیح والی (ناروغي) ولیکئ؟

**(۲۹) نهه ویشتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

د ننگرهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې څلور کسان هر یو، الف نومی ۳۰ کلن، ب نومی ۲۸ کلن، ج نومی ۴۲ کلن او (د) نومی ۳۸ کلن د بېلابېلو جرمونو په نسبت په بېلابېلو قضایي غونډو کې په لاندې توگه د حبس په بدیل محکوم کړي دي:

الف نومې یې په هغه جرم کې چې اصلي جزا یې تر پنځو کلونو پورې ده، د مراقبت په دورې محکوم کړی دی.

ب نومې یې په هغه جرم کې چې اصلي جزایي تر پنځو کلونو پورې ده په عامه خدمتونو محکوم په جزا کړی دی.

ج نومې یې په هغه جرم کې چې جزایي قصیر حبس دی له ټولنیزو حقوقو څخه په محرومیت محکو کړی دی.

(د) نومې یې په هغه جرم کې چې جزایي تر پنځو کلونو پورې ده په کور کې د یو نیم کال حبس په مودې محکوم کړی دی.

د یادونې وړه ده چې څلورواړه حکمونه، قطعي او نهایي شوي دي. گرانو گډون کوونکیو! په پورتنیو قضایاوو کې لاندینۍ پوښتنې په قانون مستند حل کړئ.

۱- په پورتنیو څلور واړو قضیو کې په فیصلو کې له درج شویو شرایطو څخه د سرغړونې په صورت کې، د محکومینو د سرنوشت کمې او کیفي څرنگوالی تشریح کړئ؟

۲- د بل جرم د ارتکاب په صورت کې ، د حبس په بدیل د محکومیت د تیرولو په دوران کې، د پورتنیو محکومینو د سرنوشت کمي او کیفي څرنگوالی تشریح کړئ؟

**د دویم څپرکي پایلیزه:**

د افغانستان په نافذه جزایي قوانینو کې د حبس د بدیل په موضوع د مباحثو په بهیر کې لاندې پایلو ته ورسیدلو:

۱. د حبس بدیل لومړی د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو په قانون کې په پنځو مادو کې تنظیم شوی ؤ بیا د ۱۳۹٦ کال د جزا کود کې په ۲۳ مادو کې تنظیم شو، پرته له دې چې د جزایي اجراآتو قانون د لغوه کیدو په اړوند تصریح وکړي. د جزا کود له انفاذ یوه میاشت وروسته د ۱۳۹٦ هـ ش کال د کب د ۱۵ مې نېټې په ۱۲۸٦ ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمه د اتو څپرکو او ٦۷ مادو دننه نافذ شوه او د هغې په انفاذ سره د جزایي اجراآتو د قانون پنځه مادې له (۳۲۵ څخه تر ۳۲۹ مې) مادې پورې لغوه شوې.
۲. د حبس او حجز د بدیلونود تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (۲) ګڼه ضمیمه د حبس او د حجز د بدیلې جزا د تطبیق او تنفیذ په ډول پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه وضعه شویدی.
۳. د حبس بدیل د لاندنیو موخو د رښتیاینې (تحقق) په منظور، د افغانستان په جزایي نظام کې ایجاد شو ی دی.
   أ. په محبسونو کې د محبوسینو له ګڼې ګونې څخه مخنیوی.
   ب. د محبسونو د لګښتنونو کمښت.
   ج. په محکومینو او د هغوې په کورنیو او ټولنې د حبس او د مجازاتو له ناوړه اغېزو څخه مخنیوی. او
   د. د اصلاح او روزنې د ښې زمینې برابرول او کورنۍ او ټولنې او سوله ییز ژوندانه ته د حبس د بدیل د محکومینو ستنول.
٤. د حبس د بدیل څلور ډولونه عبارت دي له: ( د مراقبت دوره ، د عامه خدمتونو تر سره کول، له ټولنیزو حقوقو څخه محرومیت او په کور کې حبس) د افغانستان په جزا کود کې پیشبیني شویدی.

۵. د حبس په بدیل حکم په هغه جرمونو کې صورت موندلی شي چې د هغو قانوني ټاکلې جزا اکثر حد تر پنځو کلونو پورې حبس وي.

٦. که چیرې د حبس په جریان کې، د محکوم علیه د حال اصلاح ولیدل شي، له پیشبینې شویو شرایطو سره سم، دده حبس د حبس په بدیل تعویض کیدلای شي.

٧. د کورني او بهرني امنیت، تروریستي، د تروریزم تمویل، جنسي تیری، اداري فساد، نسل وژنې، بشري ضد، جنګي او قتل د جرمونو مرتکبین او د ښځې په وړاندې تاوتریخوالی، د نشه یې توکیو قاچاق او اختطاف د جرمونو مرتکبین د حبس له بدیل څخه نه مستفید کېږي.

٨. که چیرې محکوم علیه د محکمې په حکم کې د حبس د بدیل له درج شویو شرایطو څخه سرغړونه وکړي، نو دوه حالتونه متصور دي: الف) که چېرې د حبس بدیل د مراقبت دوره وي، د لومړي ځل لپاره د حبس محکوم بها جزا تر یو نیم چند پورې زیاتېږي، د سرغړونې د تکرار په صورت کې، د حبس بدیل لغوه او پاتې موده د حبس په جزا تبدیلېږي. ب) خو که چېرې د حبس بدیل د عامه خدمتونو ترسره کول وي، د لومړي ځل لپاره زیات نه زیات تر ٨٠ ساعتونو پورې د هغه د عامه خدمتونو د ترسره کولو په ساعتونو کې زیاتېږي، د تکرار په صورت کې محکمه کولای شي د اړوند څارنوال په وړاندیز د هغه د عامه خدمتونو پاتې موده په حبس تبدیله کړي.

٩. د حبس د بدیلي جزا په اړوند د جزا کود او د حبس او حجز د بدیلونو د تطبیق په هکله د جزایي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضمیمې تر منځ ځینې شکلي تناقضات شتون لري.

## عمومي پايليزه:

دا ښوونيزه رساله چې د حبس د بديل په اړه تهيه شوې ده، دوه څپرکو (د حبس د بديل کُلي مفاهيم) او ( د حبس بديل د افغانستان په نافذه جزايي قوانينو کې) ته شامله ده.

په يادو شويو موضوعاتو د مباحثو له اجرا وروسته ګډون کوونکو وموندله چې:

١. د حبس بديل هغه جزا ده چې د جرم پر مرتکب د حبس په عوض، د مقيد خلاصـــون په بڼه د محکمې له خوا حکم کېږي؛
٢. د ١٣٩٦ کال د افغانستان جزا کود د حبس بديل ته ، دوه ګونې وصف ورکړی دی؛ کله يې هغه د اصلي جزا او کله يې د اصلي جزا د بديل په توګه په کار وړی دی؛
٣. پر محبوسـينو رواني ناوړه اغېزې، د مجازاتو له شـخصي- والي سره د حبس تناقض، پر دولت د محبس مالي (دروند بار) د محبوس په نزد د مسؤوليت د حس زوال، په محبس کې د زندانيانو د روغتيايي او اخلاقي کچې ښــکته والی، او د محبوس په نزدو د نورو مجرمانه مفکورو منځ ته راتلل، له هغه لاملونو څخه دی چې د افغانســـتان د جزايي قانون جوړوونکي پام يې د حبس بديل ته را اړولی دی.
٤. د کورني او بهرني امنيت، تروريســتي، د تروريزم تمويل، جنسي ــ تيري، اداري او مالی فســاد، بشري ضد، جنګې، د دولت پرخلاف تجاوز، د ښځې پر وړاندې تاوتريخوالی، د نشه يې توکيو قاچاق او اختطاف د جرمونو مرتکبين او متکرر مجرمين، د حبس لـه بـديل څخه نـه برخمن کېږي. که د حبس محکوم بها جزا يې لږه وي يا زياته؛
٥. د افغانستان په جزا کود کې دحبس د بديل څلور ډولونه پيشبيني شـويدي چې عبارت دي له: (د مراقبت دوره، د عامه خدمتونو تر سره کول، له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت او په کور کې حبس).
٦. د حبس د بديلې جزا په اړوند د جزا کود او د حبس او حجز د بديلونو د تطبيق په هکله د جزايي اجراآتو د قانون (٢) ګڼه ضميمې تر منځ ځينې شکلي تناقضات شتون لري.

# آخځلیکونه:

**الف) قوانین:**

١. کود جزاء ، وزارت عدلیه، منتشره جریده رسمي شماره ۱۲٦۰ ، ۲۵ ثور، ۱۳۹٦ خورشیدی،
٢. ضـمیمه شـماره (۲) قانون اجراآت جزایي در مورد تطبیق بدیل های حبس و حجز. فرمان تقنینی شماره ۲٦۷ مورخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۳ هـ ش

**ب) کتابونه:**

١. ابرنـد آبادی، نجفی، علی حســین ، حقوق جزای عمومی ۲ ، اقدامات و کیفرهای جایگزین زندان، تهیه شده توسط رایجان مهرداد، تقریرات درسی دانشکده حقوق دانشگاه شهید بشهتی، سالهای ۱۳۷۸ - ۱۳۷۹ .
٢. احدالله ، عظیمی، مسـؤل تعلیمات دوامدار دفتر بنیاد بین المللی، افغانسـتان سـلاید های تهیه شده اموزشی، سال ۱۳۹۳.
٣. . پروژه دفتر ملل متحد برای مواد مخدر و جرایم، تطبیق بدیل حبس در مطابقت به معیارات بین المللی و قوانین ملی، می ۲۰۰۸.
٤. جمال الدین محمد، ابن منظور، لسـان العرب، جلد یازدهم ، بیروت، دارالصـادر ، سـال ۲۰۰۴ میلادی.
٥. حسین آقایی، جنت مکان، حقوق جزای عمومی، جلد دوم، چاپ دوم، انتشارات جنگل، سال ۱۳۹۱.
٦. حســن، عمید، فرهنگ فارســی عمید، دو جلدی انتشــارات امیر کبیر، تهران، جلد دوم ســال ۱۳۹۱ خورشیدی.
٧. محمد، آشوری، جایگزین های مجازات زندان یا مجازات بینابین، طرح برای دفتر مقابله با مواد مخدر و جرم ملل متحد، نشر گرایش، چاپ دوم تهران، سال ۱۳۸۲، صحفه ۴۰.

۸. محمد بصـــیر، حقیار اســحق زوی، بدیل های حبس در اســناد تقنینی افغانســتان و قواعد بین الملل، پوهنتون کاتب، تیزس ماستری، سال ۱۳۹۳،
۹. میشــل، فوکو، مراقبت و تنبیه تولد زندان ، مترجمان - نیکو سرخوش و افشــین جهاندیده، نشرـ نی، چاپ نهم سال ۱۳۹۰، ص - ۹۵.
۱۰. مصــوبه مجمع عمومی ســازمان ملل متحد، حد اقل اســتاندارد قواعد ســازمان ملل متحد در رابطه به اقدامات غیر سالب ازادی قطعنامه شماره ۱۱۰ / ۴۵ مورخ ۱۴ دسمبر سال ۱۹۹۰ .

**ج) انټرنيټي سايټونه:**

www.alifathilawyer.persianblog.it

www.mudaser.perisangig.com

www.almaany.com